Nov. Dec. 1962

2 AUG 16
Copy ____ 1963

کابل

(۹)

پرله پسی ګڼه ۵۱۸۴

علمي اجتماعي او ادبي

لیندۍ (۱۳٤۱ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال نومبر او ډسمبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱ـ	دالفت وینا په هغه دعوت کښې...	الفت	۱
۲ـ	دپښتو ادبي او شعري قاموس	واسعي	٥
۳ـ	دافغانستان دشاعرانو نظمونه	معتمد شنواري	۱۲
٤ـ	پښتو کتابونه په لویه بریتانیا کښې	پروفیسر میکنزي	۲٤
٥ـ	گویته	دشجاعي ترجمه	۳۱
٦ـ	دکاریگرانو ترانه	بینوا	٤۲
۷ـ	دیشي ماتکه	دگل محمد نوزي ترجمه	٤۳
۸ـ	ژړنگ (شعر)	محمد عثمان نژند	۷۲

امتیاز — دپښتو ټولنې

مشر — گل پاچا الفت

مسئول مدیر — محمد صدیق روهي

د الفت وینا په هغه د عوت کښې

چه د افغان او شوروی د دوستۍ ټولنې له خوا

د ښاغلي پروفیسر تولستوف په ویاړ شوی و.

ګرانو ښاغلو!

ډیر خوشحاله یم چه زمونږ د نو میلمنو ښاغلی پروفیسر تولستوف او ښاغلی سټیپونین څو ورځې له خپلوا فغانی دوستانو او د افغانستان له ځینو پوهانو او مهموا شخاصو سره له نزدې وکتل او زمونږ له ګرانو هیواد سره یې څه نه څه اشنایی پیدا کړه.

دغه راز دوستانه تماسونه د دوه دوستو او ګاونډیو هیوادو د دوستۍ او پیژندګلوی علایق او روابط نورهم ټینګوی او تګ راتګ د دوستۍ پاللو ډیره ښه وسیله ده

هر کله چه دا مجلس د افغان او شوروی د دوستۍ ټولنې له خواد شوروی او افغان دوستۍ د ټولنې د مشر په ویاړ جوړشوی او دمجلس نقل د دوستۍ خوږه کلمه ده.

نو بیځایه به نه وی که د دوستۍ په باب څه وایو او دوستۍ وستایو.

زما په فکر د ملتونو او هیوادونو د دوستۍ او دوستانه سلوک یوازې د جنګ او جګړې مخه نیونکی او صلح ساتونکی نه دی بلکه په ارام ژوند کښې د خوند او خوږو پیدا کونکی هم دی.

څومره چه په بشري ټولنو کښې د اجتماعي ژوند احساس ترقی کوی او د ملتونو تماس او تعلق زیاتیږی هغومره د دوستۍ ساحه پراخیږی او دوستی بین المللی شکل پیدا کوی.

هغه اجتماعی عدالت چه بشریت ورته په بین المللی ساحه کښې زښت ډیر محتاج دی بې دوستی اولور ینې لاس ته نه را ځی.

هغه جهانی دیموکراسی چه باید د دنیا داقوامو او ملتونو تر منځ پیدا شی اود بشری او بین المللی حقوقو منلو ته زمینه مساعده کړی د دوستی تعمیم او خپرید وته ډیر ضرورت لری.

هغه کرکې او نفرتونه چه د مختلفو طبقاتو اوراز راز ملتونو ترمینځ چیرته لږ او چیرته ډیر لیدل کیږی یوازې د دوستی په برکت ورکیدای او کمیدای شی.

هغه څه چه تور او سپین ولسونه یوله بله نزدې کوی اود مختلفو افکارو او عقاید وخاوندان دګډ ژوند په لاره په حیاتی چارو کښې یود بل ملګری کوی د ملتونو ترمینځ دوستی ده چه د بشر دوستی اساس او بنیاد ټینګوی . هغه دوستی چه له چانه د آزاد قضاوت حق نه سلبوی او د مساوات او متقابل احترام په اساس اتکاء لری د ملتونو د ازادی او استقلال ساتلو د پاره ډیره ګټوره ده او په همدغسې دوستی د دنیا صلح او روغه ډیره ښه ساتله کیږی .

افغان ملت طبیعتاً د دوستی ډیر قدرکوی او په درانه نظر ورته ګوری . د دوستی پالنه د افغانی خصایلو او خصایصو یوه مهمه برخه ده او په دوستی باندی ټینګار یولوی پښتنی صفت دی.

مونږ ډیره ارزولرو چه دوستی او بشری ورورګلوی په دنیا کښې عمومیت پیدا کړی او د دنیا مختلف او مخالف ملتونه یو د بل د دوستان شی.

د همدې لامله زمونږ دوستی د بې طرفی په اساس ولاړه ده او د محدودیت و انحصار له قید او شرطه و تلې ده .

مونږ د خپلې پوره ازادی له ساتلو سره د خپل ملی او اجتماعی ممتاز

شخصیت د تقویې د پاره له نورو ملتو سره دوستی غواړو او د دغسې دوستی لاس چه له هرې خوا زمونږ خواته را اوږدشی قدر یې کوو .

زمونږ دوستی له اتحاد جماهیر شوروی سره له ډیرې مودې راهیسې د متقابل احترام اوښې پیرزوینې په اساس قایمه ده ځکه ورځ په ورځ وده او ترقی کوی او له دواړو خوا و و یې ډیره ښه پا لنه کیږی .

زمونږ دروند او قدرمن میلمه ښاغلی تولستوف چه د شوروی او افغان دوستی د ټولنې رئیس دی د دغی دوستی په پاللو او ټینګولو کښې ډیره ښه برخه لری ځکه دده په راتګ خپله ډیره خوشحالی څرګند و و او هیله لرو چه ده به زمونږ د دوستانه احساس ـ درک ډیر ښه کړی وی .

دغه پخه او درنه دوستی چه اساس او بنیادئې د خپلوا که افغانستان د دولت او اتحاد جماهیر شوروی دستر مشر فقید لینن په حسن نظر اوښه نیت کیښودل شو په دې څورو ستیو کلو نو کښې ئې د دواړو هیوادو د مشرانو او لویانو له خوا ډیره ښه پا لنه وشوه .

د افغانستان د ګران پادشاه او د ښاغلی صدراعظم او نورو افغانی مشرانو مسافرتو ته اتحاد جماهیر شوروی ته همدا رنګه د شوروی اتحاد د ښاغلی صدراعظم او نورو مشرانو راتګو نه افغانستان ته د دواړو هیوادو د دوستی پا لنې ډیر قوی او مؤثر عوامل دی چه د دوستی ټولنو له خوا یې هر وخت یا دونه په کار ده .

هغه کلتوری تړون چه د واړو هیوادو ترمنځ موجود دی یقیناً د دغې دوستی په انکشاف کښې ډیر دخل لری چه په دغه ضمن کښې د دواړو خوا وو د هنرمنو تګ راتګونه ، د فلمونو او عکسونو ښودنې ، د ژبو د زده کړې کورسونه او مرکزونه ،

د کتابو او جرا ید وتبادلې او په را ډیو ګا نو کښې یو د بل په ژ به خپر ونې دیادولووړ اقد امونه دی .

د شوروی اتحاد هنرمن او سندرغاړی چه څو محله ز مونږ ګران هیو اد ته راغلی د ی دلته یې دخپل هنراو مهارت ډیر ښه تا ثیرات د یا د ګار په ډول پریښی دی . همدارنګه زمونږ هنرمنواو سند رغاړو په اتحاد جماهیر شوروی کښې د خپلو خو ږ ونغمو ښې ا غیز ې ثبت کړ ی د ی .

داهم آهنګی د د وا ړو ملتو اوفرهنګی ا شنا یی ډ یره ښه و سیله د ه چه دبد یعی ذوق نزدیوالی پیدا کوی .

د همدغسې و سایلو په وجه مونږ یو د بل له سا ز و اواز سره ډیر اشنا شوی یو او د مأ نوسیت لمنه له پخوانه زیاته پراخه شو ې د ه

کو مې اقتصادی او تخنیکی مر ستې چه ز مونږ د دوست هیواد له خو ا بې له سیا سی قید ا و شر طه د د و ستا نه سلو ك او د د و ستی په تقا ضا له مو نږ سره شوی دی او کیږی ز مونږ د هیواد په ودانی او پر مختګ کښې ښکا ر ه تأثیر لری چه زمونږ د خلقوخوش بینی یې ډ یره زیاته کړ ې د ه .

زه دد غو یادونو په پای کښې دنتیجې په ډول وایم چه افغانی ولس له خپل هیواد سر ه ډیره مینه اوټینګه علاقه لری ځکه هر هغه چاته په ډیره ښه سترګه ګوری چه هغه دښه ګاونډ یتوب په وجه ددوی دخاورې د تما میت په ا حترا م له د و ی سر ه د هیو ا د په ودانولو کښې بې له ناوړه اغرا ضو مر سته کو ی او د د و ستی ډ یر ښه مثال قا یموی .

په ا خره کښې وایم تل دې وی دافغان او شوروی دوستی اودوستانه تعلقات .

ود ان دې وی دواړه دوست هیوادونه .

همیشه دې وی د جهان صلح او سلامتی .

واسعی

د پښتو ادبی او شعری قاموس

د شعر او شاعری ژبه په هر قبر او په هر قوم کښې د خلکو له ژبې څخه بیله وی او لږ و ډیر تو پیر سره لری ـ دا ځکه چه پخپله شعر هم اغلباً عادی مفهوم او معمولی معانی نه بلل کیږی (ان من الشعر لحکمة وان من البیان لسحرا) نو کلمات یې هم عادی او معمولی نه وی په بل عبارت شعر او ادب د ښکلیو تخیلاتو او خو ندورو او جمیله احساساتو څخه روغ شوی وی نو تعبیر یې هم په ښکلو کلماتو او نازکو عباراتو سره کیږی . دا کلمات او عبارات ځکه چه د خلکو په خولو کښې نه وی او د عوام مال نه بلل کیږی نو یې د فهم څخه هم د وی محروم وی او زیاتره اوقات نااشنا ورته ښکاری. د خلکو ژبه یا که وو ایو د عوامو افاده بلکه خواص او په سر سره پخپله ادیب او شاعر لا هم په عادی حالاتو کښې د ژبې په ساده برخه او سوقی کلماتو خبرې کوی دا ځکه چه په عادی حالاتو کښې هر څوك د کور او کاله د نوکر او خادم سره په تماس کښې وی یا په بازار کښې د کاندارته ولاړ وی د قصاب څخه غوښې ډوډی والا څخه ډوډی او له هغه بله څخه بل شی اخلی چه په دې ټولو حالاتو کښې طبعاً الفاظ ساده او ویناوې زښته عام فهمه وی او که څوك هلته هم مسجع او مقفی ګډوی نو به د (بایع الخطب) مشهوره کانه په وشی .

د شعر او ادب افاده په هره ژوندی او منکشفه ژبه کښې د خلکو د ژبې څخه جلا وی مثلاً که عربی ژبه را واخلو او د جاهلیت په دوره کښې د شعر او ادب ژبه د عمومی

ژبی او د خلکو د افهام او تفهیم د طریقې سره پرتله کړو لوی توپیر به پکښې و و ینو د توپیر د شواهدو څخه ئی یو شاهد د جاهلی شعر هغه (۷) منظومې دی چه (سبعه معلقه) نو میږی . دا منظومې که د خلکو په ژبه ویل شوی او د اعرابو د سویې سره سمې وای د کعبې بر دیوالو به نه نصب کیدلاې . او د ونه شهرت به ئې نه موندلای .

د هومیر حماسی قصیده (Iliad) الیاد په یو نانې ژبه کښې یوازې د معنی او مفهوم له خو ایوهسك ادبی اثر نه دې بلکه لفظاً او عبارتاً هم یو هنری ابتکار دی او د یو نان د هغه و خت د خلکو او عوامو ژبه نه وړته ویل کیږی او نه د عمومی سویې سره برابر ده . په انګلیسی کښې شکسپیر د ادبی شاهکار علمبردار دی او تعبیرات ئې د انګلیسی ادب شوهد او اسناد ګڼل کیږی دا ځکه چه د خلکو د ژبې څخه یې ژبه د ونه بیله ده چه په ډیرو کلماتو یې د متوسطې سویې انګلیسان هم ښایی و نه پوهیږی . همدغسې نورې ژبې د روا خله مثلاً په فرانسوی کښې هوګو ، د جرمنی کښې ګویته ، په روسی کښې پوشکین او تولستوي ، په ترکی کښې مشهور ادیب تامق کمال . په پاکستان کښې علامه اقبال ، . په هند کښې تاګور . د فارسی په زاړه ادب کښې فردوسی او انوری او نظامی او خاقانی او د دوی امثال ټول د عمومی ژبې څخه پرته په بله ژبه ګډ دی او ځان ته اصطلاحات او د تعبیر طریقی لری چه د هغو په ذریعه سړی و یلای شی چه د وی هر یو پخپله افاده کښې پر بیله لار روان دی .

په همدغه اساس باید په پښتو کښې علاوه پر عادی قاموسو نو چه د ژبې د عمومی لغاتو ساتندوی او د معمولی الفاظو او کلماتو محفظې دی مخصوص قاموسونه هم جوړشی او اد بی فرهنګونه هم راوایستل شی — د دې قاموسونو موادبه د شعری او اد بی اثارو څخه راټولیږی او د شعراؤ او ادباؤ د کلامی نمونو څخه به راغونډیږی ، د پښتو زښته لرغونی آثار به پاڼه په پاڼه کتل کیږی او زاړه د واوین به د خوشحال خان څخه را نیولی

بیاتر اوسه پوري ټول په ژوره کتنه مطالعه کیږي هر څه لغات او محاو ري چه دشعراو ادب په لمن کښې موندل کیږي یا کوم متلو نه او پښتو مقولې چه په ژبه کښې راځي او په شعرو ادب کښې په ښکلي پیرایه په کارشوي وي هغه بـه را اخلي او ادبي قاموس پر پنګه به ئې ورا چوي - په دې ترڅ کښې د پښتو زاړه منثور آثـار لکه د سلیمان ماکو تذکره، د اخند درویزه خیر البیان، دخوشحال خان دستارنامه او بازنامه او په آخر کښې دپټې خزانې څخه هم باید د انتـخاب وړ لغـات را ټول او د دې قاموس په لمن کښې ور واچول شي.

داد بی قاموسونو تاءلیف او د شعری لغاتو تفسیر او ترجمه څه نوی کار او کوم بـې سابقی فعالیت نه دی - داکار په ژوندیو ژبو کښې دپخوا څخه شوی دی او په نړۍ کښې هغه السنه چه ادبی پنګه یې قیمتی وی او انسانی تخیـل یې د کمال او جمال حدته پکښې رسید لی وی او په ادب کښې ئی هیجان را وستونکی جذبات او عواطف موجودوی ادبی قوا میس او شعری فرهنګونه لیکل شوی دی او د پخواڅخه پکښې رواج دی.

عربی ژبه چه د شرق پـه ژبـو کښې تـر ټولـو ژوندی او پـه وسعـت کښې ډیرې غربی ژبې هم نشی پسی رسیدلای ادبی قاموسونو ته ور ته تاءلیفات لری او د شعری فرهنـګونو شبیه غـوندې اثار پکښې جوړ شـوی دي خوتش دنو موفرق به موجودوی اودقاموس یا فرهنګ په نامه به نه وی بلل شوی، دمثال په ډول د مـغنی شواهد، د کشاف شواهد، د بیضاوی شواهد مـفهومـاً اود موضوع له حیثه داد بی قاموسونو اوشعری فرهنګونو مقاصد اجرا کوی داد ري کـتابونه چه دشواهد وپه نامه مشهـور دی د علوم قـدیمه د درسی

پروګرام د مطالعو ی مواد واو د عربی ژبی د کلاسیك کتا بو نو څخه د ی ـ
دوی دهغو ابیا تو شر حه او تفسیر کو ی چه هغه بیتو نه د شوا هد و په ډو ل
په هغو کتا بو کښې ر ا غلی وی چه دوی یې د شوا هد و په نا مه بلل کیږ ی
مثلاً دمغنی شواهد هغه اشعا ر اود هغو لغات څیړی چه داستشهاد ا تو په تو ګه
مغنی راوړی وی ـ همد غسې د کشاف یا بیضا وی یاددوی غوندې نورشوا هد هم
د غه کار کوی او په معنی کښې اد بی قا مو سونه او شعري فر هنګو نه
ور ته ویلا ی شو .

په فار سی کښې هم د دې نو عی تأ لیفا تو څرك لر و چه هغه د حوا شیؤ
اوتعلیقا تو په نامه پر ځینودوا وینو لکه دحافظ پر د یوان چه شروح شوی وی
یا د حل ابیات په نا مه چه بر بعضو قصاید واو مثنو با تو باندې تعلیقات د تذئیل
په ډول لیکل شوی وی یامستقلاً د شرح ا بیا ت په عنوان کوم فا ضل خپل ا فکار
پر یوه قصیده یا مثنوی اشعا رو باندې څر ګند کړی وی .

په دې لړ کښې دمولانا جلاالد ین رومی پرمثنوی تعلیقات اوتذ ییلونه خو را
مشهوردی اودهند په ډانپور کښې چه مثنوی په (۷) مجلد و کښې دز ښته مشرحو
تعلیقا تواومفصلو تشریحاتوسره طبع شوی دی چه په معنی کښې علاوه پر تحشیه
او تذییل دمثنوی یوه مختصره غوندې شرحه اوحل ابیات بایدورته وویل شی معناً
دادبی قاموس اوشعری فرهنګ ضرورت په رفع کیږی .

علامه مولاناحبیب الله قندهاری «حبواخندزاده» چه په ګاونډ یو هیوادو کښې
په «محقق اوفاضل قندهاری» یادیږی دعربی پرمشهور ډراما تیك ادبی منثور کتاب
(مقامات حر یری) یوه محققانه شرح لیکلی ده دا کتا ب که څوك وګوری فقط
دمتن دلغاتو تفسیرئې کړی دی او دلغوی تحلیلا تو خوائې غالبه ده چه په دې

اساس په معنی کښې دهغه ادبي منثور اثر (مقامات حریری) دپاره دیوه فرهنگ اوادبي قاموس حکم لري که څه هم اصلي کتاب عربي دی مګر علامهٔ شارح خپله داشرحه په خوراساده اوخوږه روانه فارسي لیکلي او تر بسمله لاندې ئې دمولانا جامي په دې خوږه رباعي ابتدا کړې ده:

اې زخوانت لقمهٔ شیرین زبان در کام ما
زاب حیوان روان کرده لبا لب جام ما
هیچ ناوردیم از خود هر چه است زان تو هست
بود ما نا بود ما آغاز ما انجام ما

دابیاتو شرحه اودلغاتو حل دپښتو د شعري دیوانو په لمن کښې هم لږو ډیر لیدل کیږي چه په ټولو کښې مفصل دعبدالحمید ماشوخیل مهمند د دیوان حل لغات دی چه پنځوس کاله تراوس دوړاندې د مرحوم قاضي ملا عبد الغفار اخند زاده قندهاري هوتك په قلم لیکل شوی او د قندهار د مشهورو کتابفروشانو ملاجان محمد او ملا بسم الله په اهتمام په لاهور کښې په ښکلي او ضخیمه طبع چاپ شوی دی چه له بده مرغه ئې اوس نسخې کورټ نه دی پاتې او پرمخ ورکې شوی دی.

ددواوینو دلغاتو حل په خطي دیوانونو او قلمي غزلي اومثنوي اشعارو کښې هم رواج دی او له پخواڅخه دنکته نویسي په شکل بین السطور ځای پرځای لیکل کیده. زیاتره قلمي اوخطي دواوین چه اوس موجوددی هر بولږیا ډیر دلغاتو حل یا بعضي تبصرې دشرح ابیات په صورت لري هیڅ لرغوني خطي دیوان خالي نه ځنې لیدل کیږي بلکه هرڅونه چه یو قلمي دیوان ډیر لرغون وي هغونه ئې حواشي او بین السطور لیکنې زیاتې وي تر دې اندازې چه په بعضو زړو دیوانونو کښې په هره صفحه کښې فقط څلور و پنځه ابیات لیکل شوي وي مګر نور مخ ټوله

بین السطور لیکنو اوحواشیؤ تو ر کړی وی دادې دپاره چه حل لغات او شرح ابیات مهم وی اوترهغه څو دا کارنه وی شوی دشاعر دهیوان یا دناظم د قصیدې یامثنوی څخه پهزړه پورې مراد اومرام اخیستل نهوی ممکن او د مطالع دزړه غروړی نشی وتلای

زمایقین دی اوتینګ باور لرم چه دغربی شعرو ادب دپاره بههم دا کار شوی وی مثلاً : دشکسپیر دډرامو نواو روا یاتو هغه لغات به چه په انګلیسی کښی ترده وړاندې چانه دی افاده کړی بی تحلیل اوتفسیره نهوې پاتې اوهرو مرو به څیړل شوی وی دغسې بهدهوګو قلمی اثار و ته هم تحلیلی کتنې شوی او ځینی لغات او کلمات چه حل اوتفسیر ی لازم وی څیړل شوی بهوی او دلغوی تحقیق پهرڼا کښی بهئې ډیر اړخونه روښانه شوی وی .

پهغربی شعر او ادب کښې خوبه دا کار شوی وی یابه وروسته وشی خو به شرقی نړی اوختیځ شعر اوادب کښې ترښه حده شوی دی اوډیر اثار او کتابونه پههمدغه لړ کښې موجودی خو ځینی یې مشهور او بعضی یې غیر مشهور دی پهمشهورو کښې یې یوڅو نومونه موږ دنمونې پهډول دهغه یاد کړه خوپه دې سلسله کښې ترټولو مشهور تألیف د(سبعهٔ معلقه) شروح دی داقصاید چه پهشمیر اووه دی دجاهلی ادب اوشعریوه هسکه نخښهده چه تقریباً دعربی لرغونی شعرو شاعری معجزه ورته ویل کیدای شی اوعلا وه پر ادبي محاسنو اوشعری بدایعو اوصنایعو د جاهلی عرب اواعرابی نړی خورا ډیرلغات پکښې ځای شوی دی چه دهمدغه جهته هم داقصاید ډیر مغلق اوحل غوښتونکی بال شوی دی اود کلماتو اواشتقاقاتو پهموند نهاوڅیړنه کښې یې شارحانو ډیر زحمت کښلی دی او هر یو پهخپله اندازه پهدقت پکښې زغید لی دی مګرتر ټولومکمله او موفقه شرحه ئې

دمولوی عبدالرحیم بریلوی شرحه ده چه په (۱۲۹۱ هجری ق) کښې دموسیو لمزون انګلیس په غوښتنه لیکل شوې ده او په درسي مرا کزو کښې ئې په پروګرام کښې ځاي موندلی دي مدرسین ئې تر نورو شرحو چه پر دغو قصایدو لیکل شوي دي مستنده بولي او دعلمي نقطه نظره څخه ئې توی ګڼي.

له دې خبرو څخه زما مقصد فقط دادی چه محترمو لوستونکو ته دا واضحه کړم چه د ادبي لغاتو قاموس لیکل او دشعري فرهنګ تدوین که له یوې خوا نوی کاردی او تر اوسه پورې په همدغه نامه او عنوان یو کتاب نه دی جوړ شوی په معنی کښې زوړ او پخوانی کاردی او دا قسم آثار او تألیفات په زیاتره ژبو کښې موجود دي خو صرف د نامه او عنوان په اختلاف. مثلا د دوا وینوشروح په عربي او فارسي کښې که سړی ورته ځیر شي غیر د لغاتو د تفسیر څخه بله معنی نه لري او که د شعر او بیت پر نورو اړخونو باندې بحث شوي وي هغه به د طفیلي وي او اصلي مقصد به د اوی چه د کلما تو او الفاظو لغوی معنی ترجمه شي.

(نور بیا)

تقریظ او انتقاد

لیکونکی : معتمد شینواری

«دافغانستان دشاعرانو نظمونه»

په دې وختو کښې په شوروی اتحاد کښې په پورتنۍ نامه یو کتاب په روسي ژبه چاپ شوی ی، په دې کتاب کښې دافغانستان دشاعرانو نظمونه ترجمه شوی دی او یوه مجموعه ور نه جوړه شوې ده . دا کتاب او یا دا مجموعه له دې حیثه چه دا فغانستان دشاعرانو افکار او اشعار نورو خلکو ته ور پیژنی ډیر د قدر وړ دی او همدا وجه ده چه په افغانی ټولنو کښې لاس په لاس ګرځي .

د شوروی اتحاد خلك دخپلو ګاونډیو ملتونو د ادبیاتو سره ډیره علاقه لری او په تیره بیا د افغانستان ادبیات د دوی د زیاتې توجه وړ ګرځیدلی دی او له همدې کبله مونږ وینو چه ددوی په خپرونو کښې دتل د پاره د افغانی ادبیاتو یادونه کیږی .

په دې مجموعه کښې د عبدالحق بیتاب ، سید شمس الدین مجروح ، خلیل الله خلیلی ، ګل پاچا الفت، عبدالرؤف بینوا ، محمد شاه ارشاد ، عبدالشکور رشاد کندهاری ، سلیمان لایق او د ضیاء قاری زاده اشعار راوړل شوی دی. دا اشعار لومړی د لود میلا اولیبیدیف لخوا په روسی نثر ترجمه شوی او بیا دغه نثرونه دهغه ځای دشاعرانو لخوا دشعر په قالب کښې اچول شوی دی .

په دې کتاب باندې یوه مقدمه هم لیکل شوې ده یه دې مقدمه کښې د افغانی

ادب په څرنګوالی او اجتماعی اړخونو یوه لنډه غوندې رڼا اچول شوی ده زه غواړم چه دا مقدمه دګرانو لوستونکو د پاره په لنډول ترجمه کړم او بیا په نورې مجموعې نظر وا چوم :

« په افغانستان کښې اشعار د ادبیا تو یوه مشهوره او په زړه پورې نوعه ګڼل کیږی پښتو اشعار او هم فارسی شعر ونه د مملکت په هره څنډه کښې اوریدل کیدای شی د کوچیا نو په کږ د یو ؛ د عرونو په لمنو ؛ د ښارو نو په رکا نو نو او په پټیو کښې ویل کیږی .

له ډیرو پیړیو راهیسې شعرونواونغمو اول د کتاب ځای نیولی و او بیاه مجلو او اخبارونو په ځای و د ریدل یعنی د بیسوادو او عوامو خلکو مشغولا همدا شعر و نه او نغمې دی . د کتاب ، مجلو او اخبا ر و نو په ځا ی په همدغو شعر ر نو او نغمو ساعت تیر وی .

دافغا نستان په فولکوری او تحریری ادبیا تو کښې داشعارو نوعې په نثر ی نوعی حکمرانی کړی ده، دادبیات په دووژ بوپښتواوفارسی تیت شوی او تو سعه یې موندلې ده،دافغانستان داد بیاتو اساس چه په دووژبوولاړدی یوتر بله یې په شعری تصنعاتو، دآوازونو په طرزونواونور ونقشو کښې کوهك او استفاده سره کړی ده مګر په عین حال کښې دغه دواړه ادبیات که څه هم دیوې ونې دوې څانګې دی بیاهم خپل خصوصیات اومزیتو نه یې ساتلې دی او خپل فورمونه ئې دلاسه نه دی ور کړی دفارسې ژبې په اشعارو باندې (چه تر دیرش کاله وړاندې وختو پورې دافغانستان یوازینی دولتی ژبه وه) دمنځنی پیړی کلاسیکې اشعارو ډیر تاثیر اچولی دی او خپل خصوصیات یې چه د ګل او بلبل او عشقی موضوعات دی هم ساتلی دی دفارسی ژبې شاعران دمفکورې ښه والی په دې کښې وینې چه د انسان په داخلی او شخصی د نیا کښې ولیکله شی خودې

وضعیت د اشعارو د عمومی وظایفو ساحه په زیاته اندازه سره تنګه کړی ده دوی د شعر دایمی سیستم عروض ګڼی کوم چه د پخوانیو کلاسیکی شاعرانو د فعالیت او اصولو څخه پیدا شوی دی .

په فارسی اشعارو کښې د عروض دایمی مناسبت د دې خبرې مخه نیوله چه د دغې ژبې په اشعارو کښی نوې اوزان مینځ ته راشی او یو معین انحطاط یې د اشعارو په فورمونو کښې پیدا کړ .

د شلمې پیړۍ په سر کښې چه د فارسی اشعارو د اصلاح د پاره کوم لومړنی کوښښونه روان وو هغه کوم تصادفی امر نه ؤ.

د پښتو اشعارو په انکشاف او پرمختګ کښې یو مخصوص طرز جریان لری ـ د غو اشعارو ته دوو اساسونو وده ورکړې ده: په لومړی سر کښی د پښتون قوم ملی اشعارو او اوزانو لکه لنډۍ، بګتۍ، نیمکۍ او داسې نور په دوهم ځل کښې عروض چه د کلاسیکی اشعارو څخه ورپاتی دی او همداوجه ده چه پښتو رنګا رنګ اشعار لری .

د پخوانیو پښتنو د ملی اثارو تاندې چینې ته د شاعرانو مراجعې ـ په ښکاره سره د اشعارو نو عه غنی کړې ده .

د پښتو د تحریری ادبیاتو تاریخ لا تر اوسه په کافی ډول سره نه دی پلټل شوی خو سره د دې هم دغه تحریری ادبیات تر اتمی عیسوې پیړۍ پورې رسیدلی د : چه د امیر کروړ فولاد سوری جنګی شعر پکښی لومړی مقام لری د دې شعر لومړی بند چه په افغانستان کښې ډیر شهرت لری دلته راوړو :

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نسته په هندوسند و پرتخارو په کابل نسته

بل پر را بل نسته له ما اتل نسته

په دې کرښو کښې د افتخار او ویاړنی احساس اودخپل ناموس د خوندی کولو فکر په څومره ښکاره اندازه سره ځلیږی او په مستقیم ډول سره داز ادی او دوطن مینه پکښې چغی وهی دپښتنو ډیر شعری اثار دبیداری زغونه کاندی چه د دې جملی څخه دمثال په ډول د پښتنو د ستر اولوی شاعر خو شحال خان خټك اشعار دی (۱۶۱۳ - ۱۶۸۹) ده تل پښتانه یووالی او اشغالګرو ظالمانو مقابلی ته رابللی دی د خو شحال خان او دده دډیرو پیروانو د وطن دوستی اشعار په پښتو ادبیاتو کښې دازادی روح قوی کړی دی او دخپلواکی دمفکورې دپیدا کولو سره ئې پوره کومك کړی دی .

په اووه لسم او اتلسم قرن کښې پښتو اشعارو خپله دغو ډید ودوره درلود ه په دغه وخت کښې دمنځنیو پیړیو د کلاسیکی اشعار و عشقی او صوفیانه موضوعاتو په اشعارو کښې ډیروالی درلود .

دټولو څخه ډیر مشهور په عشقی اشعارو سره عبدالرحمن (رحمن بابا) دی.

دده دزیږیدو او مړینې نیټه (۱۶۳۶ - ۱۷۰۷) ده او دوهم عبد الحمید مهمند دی چه په ۱۷۲۳ عیسوی کال کښې مړ شوی دی دوی دپښتنو شاعرانو په مینځ کښې لومړنی شاعران دی چه د کلاسیکی اشعارو عنعنه ئې تعقیب کړې ده مګر په همدغه وخت کښې په ملی اشعارو او ولسی سندرو کښې په لوړ زغ هغه پیښې چه په مملکت کښې واقع کیدلې منعکس کیدلې او دپښتنو میړانه شجاعت او د متجاوزینو په مقابل کښې د دوی مقاومت ستایل کیده

د پخوانیو (تحریری او فلکوری) اثارو عنعنې په اوسنیو اثارو کښې ښې منعکس شوی او پوره انکشاف ئې موندلی دی هغه پخوانی اثار کوم چه د ملی ازادی دپاره په ملی جګړو کښې ویل شوی دی .

په ۱۹۱۹ عیسوی کال کښې افغانستان پوره خپلواکۍ ته ورسیده هغو تغیراتو چه دمملکت په اجتماعی او سیاسی ژوند کښې مینځ ته راغلل ـ په اوسنیو ادبیاتو کښې ئې دپر مختګ یو مخصوص رنګ پیدا کړ او رنګینه صبغه ئې ورکړه ،

چه بیا پخپله ددغو ادبیاتو په داخل کښې دانکشاف او ترقی ریښې مشاهده کیږی. دوخت او زمان دنوو مسایلو دارتباط سره سم د پښتو دنثری آثارو وزن او تول درنیږی او اشعار په تدریج سره خپل ځای . نثر ته پریږدی او هم داشعارو په موضوعاتو کښې بد لون او تحول راځی.

په افغانستان کښې داوسنیو اشعارو بنسټ یو محمود طرزی چه ستر اجتماعی سړی او منور شخصیت و (۱۸٦۷)ـ۱۹۳۵) ایښی دی ـ دی دفارسی اشعارو سره مینځ ته راغی دده ژبه اسانه او دوخت د مسایلو موضوعات ئې راوړل او بل د اوسنیو اشعارو بنسټ غلام محی الدین افغان چه دطرزی دوست او همکارو ـ ایښی دی. ده په پښتو اشعارو کښې نوی جریان ته ادامه ورکړه ددې دوو رجالو په اشعارو کښې وطن دوستی او دوطن خدمت ته ترغیب لیدل کیږی. په همدې لړ کښې د(افغان) دغه لاندې شعر دی :

ز ما وطنه

زړه زما ډک دی له مینې د وطن — خپل وطن را ته عزیز دی تر خپل تن
هر یو ګل مې دوطن پر ماډیر ګران دی — تر کشمیر ، تر پاریسه تر لندن
شیرین ځان مې په شیرین وطن فدا دی — زه خو دا رنګه فرهادیمه کوهکن
ګلستان مې د وطن لا د رکنار دی — خارستان دی د وطن را ته ګلشن
د وطن په حمایت کښې ځان مباح دی — په د امینې کښې لازم دی سر باختن
چه د چا په سر سودا د وطن نه وی — سر د ده دی مستحق د بریدن

چاپه زړه کښې چه جنون دوطن نه وی هغه زړه دې خدای همیش لری غمجن
که څه ډیر دی په جهان کښی عزتونه ډیر عزت دی په خدمت کښی دوطن

داشعر په دې شاهدی ور کوی چه د افغانستان په اشعارو کښې نوی تمایلات پیداشوی دی شاعر مؤفق شوی دی چه لوړ محیطی او کورنی احساسات خلکوته وړ اندې کاندی. لاڅلویښت کا له وړاندې دافغانستان په اجتماعی ژوند کښې اشعارو مهم رول لوبولی دی .

سره د دې چه دشاعرانو داثارو فورمونه اومطالب رنګارنګ او مختلف دی بیاهم د وی دملت دژوند سره په علاقه ښکاره کولو کښې؛ په ملی موضوعاتو کښې چه دملت دژوند نه پید اشوی دی ؛ په حقیقی ډول سره داوسنی وخت د منعکس کولو په ارزو کښې اوحل طلبو مسایلوته د یوې صحیحې لارې په پیدا کولو کښې سره شریك او متحد دی .

د افغانستان په شاعرانو کښې مناسب مقام دغه شاعران لری د کومو اثار چه په دې مجموعه کښې راغلی دی سره د دې چه ددې مجموعی حجم ووړدی بیا هم شور وی لیکوال کولای شی چه د خپل ګاو نډی دوست د اشعارو سره اشناشی اودملت د کړووړوروحیه ورته معلومه شی -- هغه ملت چه خپلواك دی اواوس دسولې په لار روان دی. دغه شاعران چه وروسته ئې په مجموعې کښې اثارراغلی دی ټول زمونږ ژوندی هم عصران دی- دوی پخپلو آثارو کښې مختلف ادبی جریانات اوسبکونه منعکس کړی اوښکاره کړی دی چه په اوسنی افغانستان کښې دغه سبکونه موجود دی دد غوشاعرانو په مینځ کښې ځینی داسې دی چه دوی (ادب دادب دپاره) بولی یعنی دوی کوښښ کوی چه ادب دژوند سره تماس او ټکر ، ونه خوری اوځینی بیا داسې دی چه ادب ژوندسره تړلی ګڼی او (ادب دژوند دپاره) بولی .

بیتاب

په دې مجموعی کښې لومړی دافغانستان دسپین زیری شاعر عبدالحق بیتاب نوم راغلی دی. دی په ۱۸۸۸ کال کښې زیږیدلی دی او د ملك الشعراء لوړ لقب ئې ګټلی دی. داسی ګومان کیږی چه دی د بیدل او دهند کلاسیکی اشعارو دمکتب پیرودی. د ده اثارچه په دې مجموعه کښې راوړل شوی په دې شاهدی ورکوی چه شاعر سر د وطن مینه شته او هم د بیوزلو سره خواله او همدردی کوی.

دزا په نسل دشاعرانو دجملې څخه چه په فارسی لیکل کوی او دلنډو، رو ښانو اوظاهر المعنی رباعی ګانو مولف دی هغه خلیل الله خلیلی د ی. دی په ۱۹۰۷ کال کښې زیږیدلی دی او په هغه چاباندې چه دجنګ اورته لمن وهی سخت انتقاد کوی. استعمار چه ملتونو باندې ظلم کوی د ده د تیز تنقید هدف دی.

خلیلی

په داسې حال کښې چه خلیلی په کلاسیکی اشعارو کښې د خراسان د سبك پیرو دی ډېر عجیب او ښایسته شعری غزلی، قصیدې او نورد اشعارو عنعنوی فورمونه هم جوړوی.

بیتاب او خلیلی پخپلو آثارو کښې دمنځنیو پیړیو د کلاسیکی شاعرانو د عنعنو او

پرنسیپونو طرفداران دی مګره عشقی او فلسفی آثارو سره سره دد وی په اشعارو کښې نوی ار زوګانې هم مشاهده کېږی. د وی غواړی چه هغه پېښې او تغیرات چه په نړۍ کښې واقع کېږی منعکسې کاندی او خپل ارتباط او تعلق دژوند سره وښیی.

الفت

په پښتو ادبیاتو کښې دګل پاچا الفت څخه مشهور لیکوال او شاعر نه شی پیدا کېدلی دی په ۱۹۰۹ ع کال کښې زېږېدلی دی دده اشعار سهل الفهم او ساده دی د ملت داړتیاوو او تمایلاتو فهمیدل - دده د شعری اثارو مخصوص رنګونه دی دغه اثار چه په دې مجموعه کښې راغلی دی د الفت د کړو وړو په ډېرو اړخونو شاهدی ورکوی چه دغو کښې عشقی، عنعنوی او مخصوصاً محیطی او اجتماعی موضوعات شته او هم هغه اشعار دی چه د پښتنو لوړ اخلاق (پښتنولی) ستایی د الفت داثارو زیاته برخه تیزه تنقیدی ده مګر په نرمه لهجه. دالفت په عقیده هغه دواچه ناروغ ته د شفا د پاره ورکوله کېږی باید بېخی ترخه نه وی.

بینوا

دبل مشهور شاعر (عبدالرؤف بینوا) اثار د افغانستان په لوړ و ټولنو او

د ځلمیانو په غونډو کښې یو مخصوص شهرت لري. دی په ۱۹۱۳ کښې زېږېدلی دی اوداجمله دده ده چه شاعرانو اولیکوالوته ئې وړاندې کړی ده :

« زموږ په عصر کښې باید یوازې شخصی احساسات ونه ستایل شی بلکه ددې په عوض لازم دی چه د ملت او ټولنې او ضاعو ته مراجعه وشی . »

د بینوا اشعار د تیز تنقید چیغې وهی دده په ډېرو آثارو کښې د حقیقی ژوند حل طلبه مسایل منعکس کېږی او د اشعارو تیزی او حرارت ئې د استعمار خواته متوجه دی .

مجروح

یو اخینی لارچه د ادیبانو په عقیده د ټولو د پاره ممکنه ده هغه پخوانیو ادبیاتو ته مراجعه ده. دټولو نه ښکاره نطاق دده ادبی جریان سید شمس الدین مجروح دی دی په ۱۹۱۰ کال کښې زېږېدلی دی او پخپلو اشعارو کښې په هغو بدو پیښو او غلطیو باندې چه په نړی کښې واقع کېږی تنقید نیسی . خو دغه لوی ادیب کله کله د هغه پر نسیپ داساس څخه چه ده دخپلو اشعارو په جریان کښې غوره کړی دی بلې خواته اوړی. خو شبینی اودژوند څخه دشاعر خوند اخستل چه په یوه شعر (ډېره ښه شوه) کښې یې مشاهده کېږی دده د آثارو دبل رنګ نه حکایت کوی .

دپاخه عمر دشاعرانودآثارو سره په دغه مجموعه کښې دځوانانوادیبانواشعار هم راوړل شوی‌دی د کوموچه لاتراوسه پورې نظریات اوشعر ی استادی په‌قطعی ډو ل سره‌نه ده تعین شوی. ددوی دجملې نه‌ځینی‌داسې شاعران‌دی چه‌لاتراوسه پورې‌دموضوعاتو اوصو رو په‌شر طو نو کښې بنداو نښتی‌دی‌اوځینی‌داسی‌دی‌مثلالکه سلیمان لایق چه اشعارو کښې دوطن دځایونو طبیعت ستائی یادخپلو شعری‌استا دانو په قد م ځی ، داوسنیوپښتنو ژوند او کا رونه منعکس کوی.

لایق

د عبدالشکور رشاد کندهاری اشعار پاخه دی. دی په ۱۹۲۱ ع کال کښې زېږ ېدلی د ی د د ه د اشعا ر و مطا لب او ډ و لو نه رنگا ر نگ دی.

دافغانستان لوی‌اوسنی شاعران کوم‌چه.دپخوا نیوادبیاتو څخه مستفید دی‌دخپلو اثا رو په‌ذریعه په‌شعری انواعو کښې‌دد یمو کراسی دتما یلاتو درا پیدا کید و او در یالېزم اوحقیقت نگاری دعناصرو دایجادسره کومک کوی»

تردغه ځایه پورې مقد مه‌وه چه‌په نوموړی مجموعه کښې لیکل شوې ده په‌دې مقدمه کښې به‌تاسې‌ته دروسی لیکوالو عقاید چه‌د افغانی ادب اودافغانی رجالو په‌نسبت یی لری‌معلوم شوی‌وی اوس‌با یدهغه‌اشعارمعرفی کړم چه‌په دې مجموعه کښې راغلی‌دی اوترجمه شوی دی :

دښا غلی عبدالحق بیتاب دری‌شعرونه پکښې‌راغلی‌دی.ددی شعرونو عنا وین دادی متکبر عالم ، واوره (برف) او آزا د ی .

دښاغلی خلیل‌الله خلیلی دغه اشعارپکښې راغلی دی .غزل ،پسرلی او باغوان او دري رباعیگانې (دژوند شمعه ـ دازا دی لمر اوفاتحان.)

دښاغلی گل‌پاچا الفت دولس شعرونه پکښې راغلی‌دی چه‌عنوانونه یې په‌دی ترتیب دی : دپسرلی ننداره، ځه‌وینم ، ځنگه ښه‌وی،د کاڼ‌ځوانی،دپسرلی هر کلی. دازادی روح.غریب‌ماشوم ،ځه‌لرم،حرکت اوسکون،زه‌ځو ک‌یم، مونږ ځه‌ولیدل، بدای او پوه .

دښاغلی عبدالرؤف بینوا پنځه شعره پکښې راغلی دی‌اودا ، دا دی :

آیاداژوندی؟دمورسلوك،په‌ژمی کښې دیتهم ژړا، گو رهشاوخوااختردی، رباعی .

دښاغلی سیدشمس‌الدین مجروح دغه اشعار پکښې راغلی‌دی :دخو شحال‌خان یادگار،اې تقدیره ، دځه‌دپاره . . . . کله .

دښا غلی عبدالشکور شاد کندهاری دغه‌اشعار پکښې راغلی‌دی: ازادی ،درحمان بابا پیشگوئی ،پسرلی ،ښکاری ته،دشاعر ارزو .

دښاغلی ضیاءقاری‌زاده دغه‌آثارور کښې ځای‌شوی‌دی :دژوندنغمه.ملي‌هدف ، بلبل ، از اد روح ،لا وخت شته .

دښا غلی محمد شاه ارشاد دغه‌اشعارپکښې راغلی‌دی :محبوبی!،بی صبری ، تنزل‌اوترقی ، سعادت نلرم ، روغه .پسرلی .

دښاغلی سلیمان لایق دغه‌شعرونه پکښې درج شوی دی: کاروانونه ، تیر هلکتوب لږاوریدل کېږی ،دکوکچې‌په غاړه .

دنوموړو ادیبانو پورتنی اشعارچه تاسی‌ته معرفی‌شول په‌ښتیاسره غوره اشعاردی اوداچه روسی لیکوالودغه‌اشعارپه روسی ترجمه‌اوپخپلې‌مجموعې کښې یې راوړې دی ددې‌انتخاب څخه ددوی ښه‌ذوق اوادبی کریکتر موږ ته معلو میدای شی،

موږ غواړو چه زموږ اوددوی په مینځ کښی دغه ادبی علایق نور هم ټینګ شی داهم بایدووایو چه نوموړې مجموعه ځینی نیمګړ تیاوې هم لری چه دمثال په توګه لاندې راوړل کېږی:

دامیر کروړ جهان پهلوان دشعر چه ویاړ نه ئی ولی لومړی بند په روسی داسی ترجمه شوی دی

له هر پړانګه زه زړه ور یم.

هیڅوك لمانه قوی نسته .

زماغوند ې پهلوان .

نه ئې کابل پیژنی اونه سیند.

اوس که دغه ترجمه داصل بیت سره مقایسه کړو ممکن نیمګړ تیاوې ولری اصل بیت دادی:

زه یم زمری پردې نړی لما اتل نسته په هندوسند پر تخارو پر کابل نسته

بل په زا بل نسته له ما اتل نسته

په همدې ترتیب په ترجمه کښی تر اخره پورې ځینی اختصارات راغلی دی خو باید موږ په دې حصه کښی شوروی ترجمانان معذورو ګڼو ځکه لکه مخکښې چه موو ویل دغه افغانی اشعار لومړی په روسی نثر ترجمه شوی دی او بیا دشوروی شاعرانو له خوا دغه ترجمه شوی نثر و ته دشعر قالب ته اوښتی دی نو دا کله امکان لری چه یو پښتو شعر د ټولو الفاظو او معانیو دحفظ سره دې دبلې ژبی په شعر ترجمه شی ضرور به ځینی تغیرات پکښی راځی او ګه چیرې نثر په نثر ترجمه کېږې په دې صورت کښې باید د هر څه مراعات وشی . په هر تقدیر موږ دشوروی ادب پیژندونکو هانداو کو ښښونه ستایو او داچه په افغانی ادب کښی څیړنې او پلټنی کوی ددوې خدمت ته دقدر په سترګه ګورو.

پای

پښتو کتابونه په لویه بریتانیه او ایرلینډ کښې

ښاغلی ډاکټر میکنزی دلندن دپوهنتون دختیځ او افریقایی مطالعاتو دڅانګې استاذ چه څه موده مخکښې دژبپوهنې دمؤسسې په بلنه کابل ته راغلی و، مونږ ته دهغو پښتو کتابونو مؤقتی لست را کړچه دبریتانیې او ایرلینډ په موزیمونو کښې خوندی شوی دی. دادی دهغو کتابونو لست کتې مټ خپروو او دښاغلی میکنزی له دغې علمی او ګټورې مرستې څخه ډېر تشکر کوو : (اداره)

A provisional list1) of the Pashto manuscripts in public collections in Great Britain and Ireland

1 (Excluding the Bodleian, Library, Oxford.)

BM British Museum, London.

10 India Office Library, London.

Ryl. Jhon Rylands Library, Manchester.

SOAS School of Oriental and African Studies, London.

TCD Trinity College Library, Dublin.

ULC University Library, Cambridge.

1. Religion

1	مخزن الا سلام آخون درو یزه	10 Pashto B. 8
2	ایضاً	ULC Or. 606
3	»	BM Or. 9235
4	»	10 Pashto B. 9
5	»	BM Or. 6274
6	»	10 Pashto B. 29
7	»	10 Pashto B. 32
8	»	10 Pashto C. 14
9	»	BM Or. 396
10	»	BM Add. 27312
11	»	10 Pashto C.5
12	»	10 Pashto C. 12
13	»	BM Or. 9234
14	»	BM Or. 4234
15	»	BM Or. 2831
16	»	10 Pashto B. 6
17	»	10 Pashto C. 7
18	»	10 Pashto B. 7
19	»	10 Pashto B. 5
20	»	10 Pashto B. 2
21	کتاب با بو جان	10 Pashto C. 3
22	ایضاً	BM Or. 397
23	فوائد الشریعت آخوند قاسم	10 Pashto C. 6
24	ایضاً	10 Pashto C. 10
25	»	Ryl. Afghan 2
26	»	Ryl. Afghan 3
27	»	BM Or 4489
28	کلیات فتح شا	10 Pashtn B. 22 and 23

29	رشید البیان ملا عبد الر شید	Ryl. Afghan 13 a
30	ایضاً	10 Pashto B. 21
31	»	10 Pashto B. 11
32	»	Ryl. Afghan 10
33	»	BM Or. 5888
34	»	10 Pashto B. 14
35	»	SOAS 41379
36	»	TCD M. 5. 24
37	»	10 Pashto B. 27
38	»	10 Pashto B. 26
29	جنت الفردوس حافظ عبدالکبیر	ULC Or. 1352
40	ایضاً	BM Or. 12218
41	نافع المسلمین آخو ند گدا	BM Or. 4236
42	حفظ الآداب	SOAS 149964
43	عهد جدید	BM Or. 9729

2. History

44	تا ریخ مرصع افضل خان ختك	SOAS 1395
45	ایضاً	BM Or. 2893
46	»	BM Or. 4487
47	»	BM Add. 26336
48	»	10 Pashto C. 13
49	شاهنا نامه احمد شاه حافظ	BM Or. 4231
50	توا ریخ حافظ رحمت خانی	10 P. 2479
51	ایضاً پیر معظم شاه	BM Or. 4488

3. Philology

52	آمد نا مه افنا نی	10 Pashto B. 16
53	افعال فار سی با تر جمه پښتو	10 S. 2895 b
54	کتاب خیالات زمانی (قاموس پښتووفارسی)	10 P. 2439

55	ریاض المحبت نواب محبت‌خان	10 P. 2670
59	ایضاً	10 P. 2868
57	»	10 P. 2869
58	»	BM or. 4490
59	عجائب الغات الله یارخان	BM or. 399
60	ایضاً	BM or. 4491
61	یاد داشتهای لغوی راجع به پښتو	BM Add. 26582
62	قاموس انگلیزی وپښتو راورټی	SOAS

4. Poetry (i) Diwans

63	دیوان ارزانی	BM Or. 4496
64	دیوان مخلص	BM Or. 6756
65	دیوان میرزا	BM Or 4228
66	ایضاً	10 Pashto B. 24
67	»	10 Pashto B. 19
68	»	BM. Or. 4497
69	»	10 Pashto B. 3
70	»	10 Pashto C. 1 c
71	»	BM. Or. 2803
72	دیوان کریمداد	10 Pashto B. 15
73	دیوان خوشحال خان ختک	ULC Or. 1866
74	ایضاً	BM Or. 4229
75	»	10 Pashto D. 1
76	»	BM Or. 4492
77	دیوان هجری	BM Or. 2800
78	ایضاً	ULC Add. 321
79	دیوان عبدالقادر	BM Or. 2802
80	ایضاً	BM Or. 4232
81	»	ULC Add. 319
82	دیوان نجیب	BM Or. 4498

83	دیوان رحمان	BM Or. 393
84	ایضـا	Ryl. Afghan 14
85	»	10 Pashto B. 18
86	»	BM Or. 2829
87	»	BM Or. 2830
88	»	10 Pashto C. 4
89	»	10 Pashto B. 17
90	»	BM Or. 4493
91	دیوان حمید	BM Or. 4501
92	ایضاً	10 Pashto C. 11
93	دیوان احمدشاه	BM Or. 4495
94	ایضاً	10 Pashto B. 20
95	دیوان شیدا	BM Or. 4494
96	ایضـا	BM Or. 2801 a
97	»	10 Pashto C. 1 b
98	»	BM Add. 21471
99	»	10 Pashto C. 2
100	دیوان کامگار	AM Or. 2801 b
101	ایضـا	10 Pashto C. 1 a
102	»	10 Pashto B. 31
103	دیوان افریدی	BM Or. 394
104	ایضاً	BM Or. 395
105	دیوان اکبر	BM Or. 4230
106	دیوان امیرخان	10 Pashto B. 30
107	دیوان معزالله	BM Or. 2827 a
108	دیوان ابو القاسم	BM Or. 2826
109	دیوان گلچین	TCD M. 5. 8
110	چمن بی نظیر	BM Or- 2874

(ii) Other verse

111	فضل نامه خوشحال خان‌ختك	10 Pashto B. 1
112	ایضاً	BM Or. 12101
113	یوسف زلیخا عبد القادر خان ختك	10 Pashto A. 1
114	ایضاً	Ryl. Afhan
115	»	10 Pashto A. 2
116	»	BM Or. 4503
117	یوسف زلیخا نسخهٔ مصوره	Ryl. Afghan 15
118	»	10 Pasht B. 10
119	»	10 Pashto C. 8
120	»	10 Pashto C. 9
121	»	BM Or. 4239
122	»	ULC Add. 323
123	آدم‌خان‌ودرخانی صدرخان ختك	BM Or. 4502
124	قصه‌ددلی‌اوشهی صدرخان	BM Or. 2825
125	نیرنگ‌عشق‌شاه وگدا عبدالحمید	SOAS 41377
126	ایضاً	BM Or. 2804
127	نیرنگ عشق فقط	ULC Add. 313
128	قصه سیف الملوك غلام‌محمد	AM Or. 398
129	ایضاً	BM Or. 4499 a
130	معراج نامه غلام محمد	Ryl. Afghan 5
131	ایضاً	Ryl. Afghan 8
132	»	10 Pashto B. 25
133	قصهٔ‌جمجمه(لمؤلفه)وتولدنامه‌غلام‌محمد	Ryl. Afghan 4
134	تولدنامه وجنگنامه‌امامین‌سیدحسین	Ryl. Afghan 11
135	تولدنامه فقط	Ryl. Afghan 13 b
136	جنگنامه‌فقط	Ryl. Afghan 12
137	معجزات عبدالکبیر	BM Or. 4237

138	قصیده برده عبدالقادر	BM Or. 4233	
139	نور نامه جان‌محمد	Ryl. Afghan 7	
140	قصهٔ بهرام و گلاندام فیاض	10 Pashto B. 28	
141	ایضاً	Ryl. Afghan 6	
142	»	10 Pashto D. 2	
143	»	BM Or. 4499 b	
144	داستان امیرحمزه احمد	SOAS 10979	
145	ایضاً	SOAS 10978	
146	عذرا وامق معین‌الدین	BM Pr. 4500	
147	غل قاضی مولوی‌احمد	BM Or. 2827 b	
148	قصهٔ فتح‌خان ملانعمت‌الله	BM Or. 4235	
149	مناجات محیی‌الدین‌ووفاتنامه‌فقیروقصهٔ‌جمجمه	SOAS 41478	
150	نورنامهٔ‌جان محمدومناجات‌پیردستگیرمحیی‌الدین‌وغیره	SOAS 149963	

5. Prose tales, etc

151	علم خانه‌ددانش افضل‌خان خټك	10 Pashto B. 4
152	ایضاً	BM Or. 4506
153	گلدسته عبدالقادرخان‌خټك	BM 4504
154	ایضاً	SOAS 13017
155	»	BM Or. 2828
156	گلستان مترجم‌امیرمحمدانصاری	BM Or. 4505
157	آدم‌خان و درخانی لمؤلفه	10 Pashto B. 12
158	ایضاً	10 Pashto D. 3
159	»	ULC Add. 320
150	کتاب‌زقوم‌باد شاه ابراهیم	Ryl Afghan 9
161	افسانه ها ونقلها	10 Pashto B. 13
162	ضرب‌المثلها	BM Or. 2832

د شجاعی ترجمه

کویته

(٦)

دفاوست لومړی برخه : شپه : فاوست تمامه فلسفه او تمام علوم زده کړ ی مګر له ټولونه یې هیڅ کوم حقیقت نه دی موندلی او یوه رښتیانی مفکوره و ر ته نه ده معلومه له دنیا او جهان نه بیزاره شو او نور یې هیڅ ارزو او امید نه درلود . مجبوره شو چه زهر واخلی او خپل ژوند ته خاتمه ور کړی . په همدې و خت کښې د کلیسا د زنګ زغ راځی (دادایستر په وخت کښې دی چه دعیسویانو یو اختر دی) دځوانی خاطرې یې بیرته ورپه یاد شوې او له انتحار نه یې لاس واخست داوستر(١) په یوه ورځ کښې چه فاوست دهواخوری دپاره بهر وځی او غواړی چه خپل روح اوځان آرامه کړی آزاده فضا ووینی او په تماشو بوخت شی یو تورسپی ورنژدې کېږی اوورسره کورته راځی . په کور کښې له دې تورسپی نه شیطان جوړیږی . یا تورسپی چه په اصل کښې شیطان دی خپله بڼه اړوی . شیطان غواړی چه دفاوست روح واخلی او دده په اختیار ورشی . ددې په مقابل کښې دهر راز خدمت او کار دپاره تیار او چمتو دی فاوست پخپلو وینو یوداسی لیکل شو ی قرار داد کوی :

کله چه زه په هغه ساعت کښې ووایم

---

(١) Oster دعیسویانو دیوه اختر نوم دی.

مکث و کړه ! ته څومره ښه یې .
هلته ته کولای شې چه مابندی کړې .
هغه وخت زه غواړم چه په خوښی مړشم (۱)

فاوست بلې کوټې ته ځی او شیطان دفاوست جامې اغوندی دده د کار خونه کښې کښینی . یو شاګرد راځی اوله شیطان سره چه دفاوست جامې یې اغوستی دی مشوره کوی فاوست ده ته یو تمسخر آمیزه اوعجیبه لارښو دنه کوی . فاوست راځی . شیطان غواړی چه دتړون سره سم ده ته وړو کې دنیا (۲) وښیی . دی دلیب څیګ ښارته بیایی اوله هغه ځای څخه هم بیرته راتښتی بیاورته دهکسن کیوښو (۳) په نامه یو صحنه ښیی چه داهم د فاوست ته خوښیږی . شیطان فاوست ته یو راز اسرار آمیزه او به ور کوی او دی چه بیخی سپین ږیری و بیرته ځوانیږ ی . فاوست په یوې هنداري کښې دګریتښن عکس وینی اوداپیغله یې خوښیږی (Gretchen) یوه ډېره باشرفه او باکر کټره نجلی ده . ددې کورنی هم درنه اوپه خپل وخت کښې داحترام وړ ده) فاوست غواړی له دې نجلی سره وګوری بالاخره دشیطان په وسیله ددوی دملاقات زمینه برابر ېږی . فاوست له ګریتښن سره خبرې کوی او خپله مینه ورته وایی . ماښام بیا شیطان فاوست د ګریتښن کوټې ته بیایی . ګریتښن خپلې مورته وایی چه دا صندوقچه ورته د کلیساله خوابښل شوی ده .

«۱»ـ ددې تړون اصلی مقصد دادی چه که چیری شیطان وکړای شی فاوست یوې حقیقی خوشبختی او نیکمرغی ته ورسوی یاکله چه فاوست ووایی زه نیکمرغه شوم په هماغه ساعت مری اوروح یې شیطان پورې تعلق نیسی. نورنودی باید دشیطان مریدوی او خپل اختیار به نه لری.

«۲»ـ دوړې دنیا نه مراد دعاموخلکو دژوندون ترتیب اوسمون وښودل دی چه دوی په څه راز ژوند کوی او څنګه دی .

«۳»ـ Hexenkuche دجادوګرو مطبخ ته وایی چه هلته عجیب له زهرودك او ډیر ښه خوند ور خوراك پخیږی .

مارتی Marthe چه دګر يتښن ګاونډی ده يواز ی ژوند کوی او ميړه يې څو کاله مخکښې په سفر تللی دی . شيطان مداخله کوی او دې ته وايی چه ميړه يې مړ شوی دی شيطان فاوست ته وايی چه دی کولای شی، بيګاد مارتې (کونډې ښځی) په باغ کښې له ګريتښن سره کتنه وکړی . ماښام ګريتښن له فاوست او مارتی له شيطان سره (البته دانسان به صورت او په بدلو جامو) خبرې اترې کوی کښته او پورته ګرځی . شيطان دفاوست دمينې او دهجران په لمبو سوزيدلی زړه نه خبر دی . ګريتښن په خپل کور کښې دځرخې ترشاناسته ده او دخپلې مينې يوه خوږه سندره وايی. بيادوی دمارتی په باغ کښې سره ګوری. ګريتښن پوښتنه کوی چه ته زما په باب څه فکر لرې؟ فاوست وايی . ډېر ښه فکر لرم او غواړم له تا سره واده وکړم تاسې خوښېږې ده ته وايی چه نن ماښام به زما کورته راځې هلته به سره ګورو .

فاوست ورته دبيهوښی يوه دوا ورکوی چه خپلی مورته يې ورکړی او هغه ويده کاندی ـ دا دارو هم دشيطان په شيطنت په زهرو بد لېږی او د دې مور وژنې . ددې مسئوليت ظاهراً هم ګريتښن ته راجع کېږی . په دې شپه ګريتښن له فاوست سره ديوې نا جايزې رابطې په سبب خپل بکارت له لاسه ورکوی او دزوی دپيدا کيدلو امکان برابريږی . ددې ورور چه يو ډېر تور زن جګړن دی دخپلې خور دبدو رابطو او بدو او ضاعو څخه خبرېږی

څکه چه دې باشرفې نجلی بده آوازه په هر ځای کښې خپره شوې د . ورور يې والنتين Valentin سخت په قهر پېږی او دشپې غلی او په پټه دخورځار کوی دشپی چه فاوست او شيطان راځی دی هم ورننوزی . خپله خور يوې خواته بيايی اوله فاوست سره دتورو جګړه کوی شيطان بيا خپل کار کوی په چل

دفاوست په لاس والنتین ته‌داسې سخت ګوزار ور کوی چه له پښو یې غور ځوی او هغه دخپلې خورد شرافت ساتلو په جنګ کښې شهید کېږی .

فاوست اوشیطان دواړه تښتی . ددی کارمسؤلیت هم‌ظاهراً دګریتښن په غاړه کېږې اوخلك ورته په حقارت ګوری فاوست اوشیطان د Walburgisnacht مېلی دپاره ځی هلته هم دیوی خونړۍ واقعی نه وروسته بېرته تښتی هلته ځوانان ناست دی اوشراب څښی شیطان‌وایی چه زه به‌تاسوته داسی شراب در کړم‌چه حیران به شیء مګرپام کوی‌ء چه‌یوڅاڅکی یی هم توی نشی اتفاقاًیوڅاڅکی پرځمکی باندې لوېږی اوپه هغه‌رسټوران کښی اوربلېږی هغه سوځی اودوی بیاتری تښتی او په جاودیی‌الونونکو اسانو باندی سپر ېږی .

ګریتښن چه مخکښی‌امیدواره شوی وه‌یوزوی‌پیدا کوی‌اودخپل پت ساتلو دپاره هغه‌وژنی‌او پټ پی ښخوی مګرداواقعه پټه‌نه‌پا تی کېږی او زور سوا کېږی‌تر محاکمی وروسته ګریتښن په‌ابدی حبس‌محکومېږی‌ځکه‌چه‌دې دری‌قتله کړی دی (مور - ورورا‌و زوی) اوس‌نوګریتښن لک‌لېونی په بند کښی‌ده اوله ځان سره‌دخپلو تیرو بدبختیود عواقبو‌او بدوورځوانتظارباسی‌داپه‌یوه‌عجیب‌خیال کښی‌ده په‌دې وخت کښی فاوست اوشیطان په اسونو سپاره محکمی‌اوبند یخانی ته‌نز دی کېږی‌شیطان فاوست بندیخانی ته‌لیږی اوورته وایی چه‌باید ګریتښن له جیل‌نه خلاصه کړی‌اوخپله دباندی پاتی کېږی (۱) کله چه فاوست‌د ګریتښن کوټی ته نزدی کېږی هغه یی‌نه پیژنی اوچیغی کوی فاوست یی نوم یادوی ګر یتښن فاوست پیژنی او د کوټی ور ورته‌خلا صو ی .

---

(۱) ځکه چه په محکمه کښی د خدای نوم اخستل کېږی اومقدس کتاب هلته دی نوشیطان قدرت نه‌لری چه هلته ننوو ځی

فاوست دګریتښن داپستلو تمنا کوی لا کن ګریتښن ورسره نه منی او غواړی چه دخپلو ګناهونو مجازات وویني او عدالت یی ووژني ګریتښن دفاوست تر پښو لاندې لویږی او دپاتی کیدو غوښتنه کوی او وایی چه ماد اسی ښځه کړیء چه یوی خواته مې موربلی خواته می ورور او زوی می، په غیږ کښی وی داخبره وایی لکله لیونی دې خوا هغی خوا ګوری لویږی او مری.

شیطان په فاوست ږغ کوی چه «هغه محاکمه شوه» لا کن یو مړ موږغږ داسی وایی چه «وبښله شو.» (۱) په دې ډول دګریتښن د مړینی څخه وروسته بیرته له جیل نه راوځی او پراس سپور بیرته ځی. دفاوست لومړی تراژیدی برخه دګریتښن په مرګ پای ته رسیږی.

دفاوست دوهمه برخه: شیطان فاوست ته لارښوونه کوی او هغه دقیصر (پاچا) دربارته بیایی. قیصر په دې وخت کښی په یوه سخت اقتصادی مشکل کښې ګیر راغلی دی او هیڅ پیسې نه لری. دشیطان په مرسته فاوست ورته کاغذی بانګ نوټ ښیی او هغه له دې اقتصادی ربړنه خلاصوی. په همدې وخت کښې چه څه پیښ شوی او څه چه دوی کړی دی ټول بې دشیطان په جادوګرۍ یو پای ته رسیدلی دی. شیطان دجادوګرۍ دصنعت په اثر فاوست ته بله نړۍ ښیی چه په هغه کښې هیلینا Helena (۲) مړ پر ته ده. دهیلینا دجسد په لیدلو بیا هم دفاوست په زړه کښې یو دسوځنده مینه پیدا کیږی. له دې څخه وروسته شیطان له فاوست سره بیرته دده دشاګردانو کوټې ته راد رومی دیوې بلی جادوګرۍ څخه وروسته شیطان فاوست کلاسیکی والپورګیس ناخت Klassische Walpurgisnacht

---

(۱) ـ لحکه چه داټول وران کارونه اود عزیزانو مرګ دګریتښن په اراده اوغوښتنه نه ووشوی بلکه ټول دشیطان بدکارونه وو نو لحکه خدای ګریتښن ښښی.

(۲)ـEuphorion په نړۍ کښې ترټولو ښکلی او ښایښته نجلی وه چه په یونان کښی یې ژوند کاوه.

ته بیایی چه په یونان کښې موقعیت لری. فاوست بلې نړۍ ته ځی او هلته پرز یفون Persephon ته وایی چه هیلیناژوندی کاندی. دا کار کوی او له وفاست سره یوځای کیږی او د Lakonien Beides دزوی یفوریون (۱) Euphorion په ځای کښې چه مخکښې بی پلار مړ شوی دی ژوند کوی.

دا ځلمی انتحار کوی او دده دمرګ نه وروسته هیلینا بیرته مری او خاورې کیږی.

فاوست له دې نه وروسته بیا له اخلاقی نړۍ سره علاقه پیدا کوی او بیرته د قیصر قصر ته را ځی

فاوست قیصر له هغې جګړې نه خلاصوی او ده ته بری ور کوی چه له یوه قیصر سره یې درلوده. او په مقابل کښې قیصر ورته یوه پراخه وچه او بیحاصله سیمه ورښیی چه البته دا ښه دفاوست په غوښتنه وه. دلته نو باید دی خپل وروستی قدرت او آخری قوت په کار واچوی فاوست غوښتل چه داوچه صحرا شنه او زرغونه کړی. د بحر داو بو نه استفاده وکړی او بی ځایه اوغر یبو خلکو د پاره کور او کلی آباد کاندی. د ده په دې علاقه کښې دوو تنو زړو او بی اولاده کسانو ژوند کاوه یوه ښځه او یو میړه وو نومونه یی فیلیمون او بوکیس وو. فاوست شیطان ته وایی چه باید دوی ته ووایی چه دوی دا ځای خوشی کړی زه به دوی ته ښه ځای ښوړ کړم ځکه دا ځای زما د نقشې ترتیب ورانوی. شیطان هغوی ته وایی خو هغوی یې نه منی.

شیطان یی کورته اورورته کوی او دوی له کوره سره سوځی فاوست خپه کیږی او د دوی په مړینی تاء ثر ښکاره کوی د لته خپل کار شروع کوی او غواړی چه صحرا په یوې زراعتی ځمکی بدله کړی یوه ورځ دی په خپلې خونی کښې کرار ویده دی. په خوب کښې احساس کوی چه داوچه صحرا از رغو نه شوی

---

(۱)-Helena په نړۍ کښې ترټولو ښکلی او ښایسته نجلی وه چه په یونان کښې یې ژوند کاوه

(۲)-Euphorion دیوه وړو کی مقدس هلک نوم دی.

نرا و ښځی واړه اوزاړه په ګډه کار کوی دغنمو لودی ـ ښځي او نران ګډه ی
ټړی اوپه سریی زدی په خوشحالی ددرمند خواته ځی اودخوښی سندرې وا یی
ځان په دې وخت کښې نیکمرغه ګڼی اووایی چه دانسان لویه خوشبختی همداده
چه دنورو دآرامی او نیکمرغی دپاره خدمت و کړی په همدې وخت کښی له خوبه
ویښیږی او داسی وائی « په دې لحظه کښی زه دویلو اجازه لرم صبرو کړه ځومره
ښکلی یی ته »

دیوې داسی خوشبختی او نیکمرغی په وخت اوحصول کښی .

اوس ماد نیکمرغی وروستې لحظه وموندله (۱) .

ددی ابیاتو په ویلو فاوست لوبزی اومری شیطان ګومان کوی چه اوس یی طبعاروح
زمادی ځکه چه بالاخره ماو کړای شوچه هغه نیکمرغه کړم امادی په غلطه تللی و
ده ونه شو کړای چه دی دژوند په شهواتوا وبدوښیګړ ونیکمرغه کړی لا کن
هیڅکله هم دشیطان وسه ونه رسید ،چه دی اودده حقیقی مفکوره دانسانی حقیقی
نیکمرغی دحاصلولو نه وګرځوی اودی بسی لاري کړی نه یوازی همداوخت
فاوست له جزانه خلاص شوی وبلکه لامخکښی دی معاف وځکه چه ده داټول کارو نه
دشوق او حقیقت له مخی نه کول. ملایکی را ځی او دده روح داسمان خوا ته
وړی البته فاوست پخپل عمر کښی ځینی غلطی کړې وې دځینو ګناهو نومرتکب
شوی ومګرده اصلا هغه نه غوښتل بلکه دایی غوښتل چه حقیقت ته ور سیږی
چه هغه خدای ته درسید اولاره، هغه دجهان حقیقی مقصدو او دنیکمرغی او حقیقت
دلارې دموندلو همداوجه وه چه شیطان شرمنده اوله درباره بیا وشړل شواوفاوست

(۱ ـ دلته ددی رباعی مقصد دادی : موږولیدل چه دفاوست اوشیطان ترمنځ یو تړون وشو
دلته فاوست په رښتیاخپلی نیکمرغی ته ورسید نوځکه وایی چه زه اوس نیکمرغی ته
ورسیدلم اوس زماد نیکمرغی لحظه ده .

یی راضی نه شو کړ ای فاوست حقیقت ته ورسید نو ځکه یوې غیبی ډلې داسی وویل «هر هغه څوك چه دښو کارو نو لارې او حقیقی د پیدا کولو له پاره ستړی کېږی- هغه ته موږ نجات ورکو لای شو.»

په دې ځای کښې دفاوست داثر دوهمه برخه پای ته رسیږی.

دفاوست پروبلیم او تاریخی فاوست:

ګوېټه غواړی چه دفاوست داثر په لیکلو خپل دراماټیکی قدرت وښیی او دامعلومه کړی چه باید یو هنری اثر څنګه ولیکل شی له بلی خوا ګوېټه غواړی چه دفاوست داشعارو په ویلو فاوستی کلتور یا په بل عبارت دالمان د هغه وخت او تر هغه پخوا کلتور وښیی. تاریخی فاوست چه دداکتر فاوست په نامه یادېږی په منځنی پیړی کښې ژوند کاوه. هغه یو بدشهر ته سړی و، دی یو جادوګر (۱) واو په جادو او طلسم یې کمیاګری کوله. ددې جادوګری په وسیله به یی له هر شی نه مصنوعی یا جعلی سره زر جوړول. دهغه په خرڅولو به یې پیسی ګټلې او هغه به یې په بدولارو کښې لګولې. د اقصه او داستان تر ډېره حده پورې په خلکو کښی موجود وه او له یوی نه بلی خولی ته نقل کیده. تر څو چه دنانځکو دښودلو په ترتیب ګوېټه ته ورسیده ار دده پام یی دې خوا ته راواړاوه او له هغه نه یې دغه عالی شهکار جوړ کړ چه مخکښی موداستان ولو ست.

دفاوست ترجمې:

دفاوست اثر په ډېر وزیاتو او بیلو بیلو ژبو په مختلفو هیوادو کښی ترجمه شوی دی اولا هم خلك غواړی چه دا اثر بیا هم ترجمه شی په تیره بیا په هغو ژبو چه ترجمه شوی نه وی. موږ ویلای شو چه ګوېټه همدې اثر د ترجمو په اثر په باندنیو هیوادو کښې خپل شهرت او کمال ته رسیدلی دی او اوسی ئې چه دومره خلك پیژنی دا دهمدې اثر له کبله ده

(۱) تاریخی- فاوست ته مستر یا لقب ورکوی

دنور وفاوست :

دفاوست اثر دنور وشاعرانو له خواهم په بیل ډول او بیل ترتیب لیکل شوی دی او هغه کسان دادی

۱ـ دلیسنګ فاوست Lessings Faust

۲ـ دفریدر یښ (مالر) میولر فاوست Friedrich(Maler)Muller چه دفاوست ژوندیې دیوې ډرامې په صورت لیکلی دی.

۳ـ مکسیمی لیان کلینګر Maximilian Klinger چه دفاوست ژوندیې دیوه رومان په ډول لیکلی دی.

٤ـ دګویټه فاوست (چه په تفصیل مخکښې ولیکل شو)

٥ـ ګرابیی Grabbe چه ددون یوان اوفاوست په نامه یو اثر لری.

٦ـ لیناو Lenau چه دفاوست اثر یې په Epos لیکلی دی. دګویټه رزمی اشعار او قصاید: (۱)

کوم رزمی اشعار اوقصاید چه ګویټه په بیلو بیلو وختو کښې ویلی دی ځانله نومونه لری اوهر یویې ځانله خصوصیت لری موږ یې بوازی نومونه یادوو.

دګویټه رزمی اشعار دادی :

۱ـ دځوان والټر در دونه اورئځونه ؛ دااثر په ۱۷۷٤ عیسوی کال کښې پای ته رسیدلی دی.

۲ ـ ویلهیم میستر Wilhelm Meister له ۱۷۷٦ نه تر ۱۸۲۹ پورې: دااثر هم دوې برخی لری یوه برخه یې دویلهیم مستر دزده کړی مسوده په نامه یادیږی، چه ۱۷۹٦ ع کال کښې پای ته رسید لی اوبله برخه یې دویلهیم مستر د سفر و ختو نو په نامه

(۱) دګویټه رزمی اشعار زیات دی اوهر یو یې ځانله اوجلا تفصیل او تعریف غواړی. موږ په دی رساله کښې یوازی دهغو دنومونو په یادولو اکتفاء کوو.

یادېږي چه له ۱۸۲۱ نه تر ۱۸۲۹ پورې ورباندې کار شوی او په همدې و رو ستی کال کښې میدان ته را وتلی ده .

۳ـ Die Wahlverwandtschaften (۱۸۰۹)

٤ـ Reineke Fuchs (۱۷۹۳)

٥ـ هیرمن او دوروتیها Hermann und Dorothea (۱۷۹۷)

دګویته علاقه له طبیعی علو موسره : ګویته د عمر په بیلو بیلو برخو کښې له طبیعی علومو سره علاقه درلوده اما په ټولو وختو او په بیلو بیلو زمانو کښې په یوه راز قوی او با دوامه نه وه دمعراج ټکی یې دوه وختو نه شمیرلای شو. په دې معنی چه په دې دوو وختو کښې ګویته له طبیعی علومو سره ډېره زیاته علاقه درلوده یو دایتالیې په وخت چه دنبا تاتو دعلم او Osteologie (دهډو کو پیژندنې) سره یې ډېره علاقه درلوده اووروسته یې دشیلر په وخت کښې له فزیك سره علاقه زیاته شوه او داوورنګونو دمسألی په برخه یې یوه نظریه قایمه کړه (۱). موږ کولای شو چه ګویته دسپینوزا د یوه شاګرد په حیث معرفی کړو په عمومی اولنډول ویلای شو چه ګویته له دې لاندی علوموسره علاقه لرله او ډېرښه افکاریې څرګند کړی دی او هغه دادی:

---

(۱)ـ کوم سړی چه دوروستی محل دپاره دګویته دوروستیو سلګیو په وخت کښې له ده سره ووایی چه ګویته پخپلې ټولی شاعری او ټولو آثارو باندې مغرورنه وبلکه په دې یې ډېر افتخار کاوه چه دده دا نظریه چه نور له منشورنه دتیر یدو څخه وروسته ووه رنګه نه لری. حال دادی چه څوورځی وروسته داخبره علماً غلطه ثابته شوه .

په کابل کښې نن سبا دژمې شپې ورځې را تلو نکی دی.

١ـ Osteolgie دهډو کو علم پیژ ند نه .

٢ـ Mineralogie und Geolgie جیولوجی او مینرال پیژندنه.

٣ـ Meteorologie مترو لوژی یا هوا پیژند نه .

٤ـ Botanik دنباتاتو پیژ ند نه .

٥ ـ Optik دنور علم اودنور په باب دځینو عدسیو او ښیښو تر تیب ا و له دوی څخه دنور تریدل او دهغو څرنګوالی .

موږ ګورو څنګه چه ګویته یوشاعر اولوی فیلسوف وو دطبیعی علومو یولو ی اوستر پوهاند و . ده له دې پورتنیو علمو سره ډېره علاقه در لوده چه په تفصیل یې دلته نه ځائیږی اوموږ یوازې دعلومو په نومو اخستلو او یاد و لو اکتفاء کو و اورساله پای ته ر سوو . (پای)

بینوا

د ۱۹٦۰ع کال د می دلومړی
ورځې د کاریګرا نو د جشن یادګار
مسکو

د کاریګر ترانه

ماتوم سپر اوتوره، ترې یوم اولور جوړوم
د جنګ له تورو، تیږو، د صلح کور جوړوم

تو پیر د رنګ ا و تکوم نه پیژ نم نه منم
جهان کښې یو رنګ جهان، د سپین او تور جوړوم

د دښمنۍ او کر کې . و راسته تو رونه شلوم
د محبت له ذرو. د ستر ګو تور جو ړ و م

چه سپیلنو غو ندې . د با دار ۍ تخمو نه
پکښې لوګی لوګی شی، هغه سورا ورجوړوم

د هغه ز ور د پاره چه د بل کور و رانا وی
د خپل بقا په قو ت . د فنا ګو ر جو ړ وم

ليکونکی: پوشکين

مترجم: گل‌محمد نورزی

دپشی ماتکه

يوه شپه دسپاره ګارډ منصبدار (نروموف) په کور کښې دقطعو لوبه روانه وه په هغه لوبه باندې دژمی اوږده شپه داسی تيره شوه چه هيڅوك ور باندې ونه پوهيدل فقط د سهار په پنځو بجو دماخوستن ډوډۍ دپاره دډوډۍ ميز ته راغونډ شول هغو کسانو چه لوبه ګټلې وه په ډيره مزه سره ئې ډوډۍ خوړله او هغه چاچه لوبه بايللی وه دخپګان نښې ئې په ټنډه کښې له ورايه ښکاريدی.

شامپين راوړه شوه خبرې منځ ته راغلې. ټول مجلس خبرو کښې برخه واخيسته.

په دې ضمن کښې کور به پوښتنه وکړه: «سورين! تاڅه وکړه؟».

ـــ «دعادت سره سم تاوان می کړی دی. داهم ښايی ووايم چه زه بدبخت يم. لوبی ته ډير پام کوم ـ هيڅکله په غصه شوی نه يم څوك مې غولولای نه شی. مګر هميشه په هره لوبه کښې تاوانی کيږم.

ـ آيا کله دې داسې فکر کړی دی چه دقمار په دومره لويه غونډه کښې ګډون وکړې زه خوستاد زړه کلکوالی ته حيران يم.»

يوه ميلمه هغه ځوان انجنير منصبدار ته اشاره وکړه وئې ويل چه: «وګوره! ګيرمن څنګه دی هيڅکله ئې په لاس کښې قطعې نه دی اخستی مګر زموږ سره هره شپه دسهار تر پنځو بجو پورې ناست وی زموږ لوبی ته په ډير دقت سره ګوری.»

ګيرمن وويل: «زه دقطعه بازی سره ډيره مينه لرم ـ اونشم کولای چه خپلې ضروری

پیسې ددې هیلې لپاره قربان کړم چه نورې زیاتې پیسې وګټم »

تومسکی وویل : «خبره په دې کښې ده چه ګیرمن المانی دی همیشه سنجش کوی به هرڅه کښې له ډیره فکره کار اخلی . زه دده په رویه او سلوک باندې پوهیږم مګر د هغه چاپه رویه نه پوهیږم چه هغه زما انا (کونتس انافیدونا) ده .

میلمنو چیغې پورته کړې « څنګه ده ؟ څنګه ده ؟ »

تومسکی خپلو خبرو ته ادامه ورکړه اوویې ویل « زه خوپه دی سر نه پوهیږم چه زما انا ولې قطعه بازی نه کوی ؟ »

نروموف وویل : « دا نوڅه د تعجب خبره ده چه یوه انیا (۸۰) کلنه بو ډی قطعه بازی نه کوی ؟ »

- تاسی ددی په باره کښې هیڅ معلومات نه لرئ ؟

- نه رښتیا ده - نه .

- او که تاسې خبر شئ .

تاسې خو به خبر واست چه زما انا تقریباً شپیته کاله د مخه پاریس ته تللی وه . او هلته ئی ډیر شهرت درلود . ډیر خلک ددې لپاره راتلل چه د مسکو زهره وو ینی . (ریشپلیه) خودا کو ښښ هم کاوه چه زما له اناسره ملګرتیا شروع کړی د ځان محبوبه ئی کړی . زما انا وائی چه نژدی و چه ریشپلیه زما په مینه کښې دزیات حماقت له مخې انتحارو کړی

په هغه ورځو کښې دموډ سره سم ښځو ډیره زیاته قمار بازی کوله او یوه روځ په شاهی دربار کښې (داورلیانز سردار) زما د انا سره قمار بازی کوله انامی ډیرې پیسې بایلو ولې او هغه ټولې د پور په ډول ور باندې پاتې شوې .

انامی کورته راغله جامې ئی وکښلی او زما نیکه ته ئی د تاوان په حصه کښې

وویل اوامرئې و کړچه داپور بایدخلاص کړی زماډیرښه یادیږی چه خدای بخښلی نیکه مې دانا په مخ کښې دنو کر حیثیت درلود دهغی څخه داسی ویر ید ه لکه اورچه داو بوڅخه ویریږی ولی سره له دې کله چه دداسی تاوان ږغ ئی واوریدبیخی په قهرشو . نیکه می اسناد راوړل چه دهغی له مخی داسی معلومیده چه د و ی په شپږ ومیاشتو کښی په پاریس کښی نیم ملیون روبله خرڅ کړی وو. نیکه می په پاریس کښی هیڅ مال اوملك نه درلود او دایی هم ویل چه نو ر به خپلې ښځې ته هیڅ پیسه ورنکړی انامې چه داخبره واوریده زمانیکه ئی پرمخ وواهه او دخپل قهرد ښود لو لپاره خوب ته هم پوازې ولاړه .

بله ورځ ئی بیا خپل میړه راویاله او په دې تمه چه هغې کو ر نی جز ا خو به ورباندې څه تا ثیر کړی وی. ولې نیکه مې په خپله خبر ه کلك ولاړو .

په ټول ژوند کښی دالومړی ځل وچه انامې دخپل میړه سره دبحث اودلیل لاره راواخیسته فکرئی کاوه چه په دی دلیلو نوبه خپل میړه مات کړی او دا ئی ثابتول غوښتل چه یوپور دبل پورڅخه توپیر لری اوهمدارنګه هغه پور چه له یوه شاهزاده څخه احیستل کیږی دهغه پورسره چه له یوه ګاډ یو ا نه ا خیستل کیږی ډیرفرق اری. مګر زمانیکه انکار و کړاو دې خبرو څخه ئې غوږ کوڼ کړ اووئې ویل نه ـ بس. انامی نور هیڅ نه پو هیده چه څه بایدو کړی اوس یوه لارور پاتی شوی وه هغه داچه د یوه مشهوراو مخور سړی سره ئی پخه اشنایې وه تاسی خوبه د « کونت ډی سینټ جرمین » په باره کښی څه اوریدلی وی دهغه په باب ډیرې حیرانوونکی خبرې اوآوازې اوریدل کیږ ی هغه یوه ور ځ د خپل ځان په باره کښی وویل « زه دښه ابدی ژوند او کیمیا بوتی د واړ و خصو صیا ت پیژنم اوداسی نورشیان » خلکو ورپورې وخند ل اوویل ئې چه دی پاړوګردی

ګزانو په خپلو یادداښتو نو کښې لیکلی دی چه دی جاسوس و. و لی دا باید ووایم چه (کونت ډی سینټ جرمین) که څه هم پټ او مرموز سړی و. مګر بیا هم په ظاهره ډیر شریف ښکاریده او خبرو کښی ډیر مهربان و. زما انا د هغه سره تر اوسه پورې ډیره مینه لری او ډیره په قهر یږی که څوك بدور باندې ووایی. انامی په دې خبره وه چه (کونت ډی سینټ جرمین) ډیرې پیسې لری او د هغه نه ئی مرسته وغوښته زما انا (کونټ ډی سینت جرمین) ته په خپل لیك کښې لیکلی وو چه فوری راشه (جرمین) هم دستې راغلو زما انائی په ډیر غم کښې ولیدله او دخپل میړه ظلمونه ئی یو یو خپل اشنا ته بیان کړل او په آخر کښی ئی داز یاته کړه چه اوس نو ټولې هیلې او امیدونه مې د (سن جرمین، په مهربانی او مرستې پورې اړه لری (سینټ جرمین) یو ښه ساعت په فکر کښې ډوب شو او وروسته ئی وویل

« زه کو لای شم چه تاسې ته دا مقدار پیسې در کړم مګر خبره داده چه زه ستاسې په نور تکلیف نه یم پیرزو دا ځکه چه تاسې به تر هغه وخته پورې رو حاً نارامه وی ء تر څو چه دا پیسې بیرته را کوی ء .

اوس یوه لارشته هغه اچه په قمار کښی پیسې وګټی ء . »

زما انا ورته وویل چه «مهربانه کونته ! زه وایم چه بالکل پیسې نه لرم» سینټ جرمین په ځواب کښې وویل « پیسو ته هیڅ حاجت نشته تاسې خوزما خبرو نه غوږونیسی ء ».

اوداسې چل ئې وروښود چه مونږ ټولو هغه چل په ډیره لوړه بیه سره اخیست ...

ځوان قطعه باز توجه دو چنده کړې وه. تومسکی پایپ لګولی و، پرله پسې ئې دود هوا ته شاړه او خپلو خبرو ته یې ادامه ور کړه.

په همدغسې ماښام زما انا ورسای ته راغله. د ملکې د قیمار بازی په خصوصی ځای کښې داورلیانز سردار بیا قمار بازی کوله. زما انا په ماته غاړه بخښنه و غوښته چه د هغوی

پورئې نه دی راوړی. دخپل قرض دپټولولپاره ئې یوه سلسله نورې خبرې هم و کړې او بیایې په قمار پیل و کړ.

درې قطعې ئې انتخاب کړې او په هغه سره ئې لوبه شروع کړه. دې درې واړو قطعو ډېرې پیسې وګټلې او انامې دتیرتاوان پوره تلافی و کړه.

یوه میلمه وویل: «دا یو چانس ؤ.»

ګیر من وویل: «دا افسانه ده»

دریم میلمه وویل: «ممکن هلته په قطعو باندې کومې نخښې وی.»

تومسکی په مغرورانه وضعه وویل: «دا فکر نه کوم»

نروموف وویل: «څنګه ده؛ ته انالرې چه درې داسې قطعی پیژنی او تر اوسه دې خپل مهارت نه دی جوت کړی؛»

تومسکی په ځواب کښې وویل: «نه .. هیڅکله ... زما انا څلورزامن درلودل. دهغوی په جمله کښې یوزما پلار هم. ټولو زامنو ئې قمار سره ډېره مینه درلوده مګر هیچاته ئې دا راز څرګند نه کړ.

که څه هم دد وی کارونه سر ترسره ناوړه دی او هیڅکله ئی ما نه دا راز ونه وایه مګر یوه ورځ زما تره کونت ایوان ایلیچ ماته داخبره و کړه او ویې ویل چه زما داخبره با لکل رښتیاده خدای بخښلی چاپلیتسکی داډول سړی ؤ چه ملیونه روبله ئې په عیشه لار کښې مصرف کړل او دخپلی بې با کی له لاسه په غریبی کښې مړ شو داسې ښکاری چه ده په خپله ځوانی کښې یوه ورځ تقریباً درې سوه زره روبله دزوریج په مقابل کښې بایلودل. اوډیر عمګین ؤ.

زماانا چه تل دځوانانو په مقابل کښې سخت ګیره وه مګر په هغه ورځ ئې په چاپلیستکی زړه نرم شو او ددرو قطعو چال ئې وزوښود. اودایې هم ورته وویل

چه‌ته باید دادري قطعي پرله‌پسي استعمال نکړي اوورو سته‌ئي داهم ورته‌وویل چه‌ته‌همیشه باید په قمار بازی کښي ګډون هم‌ونکړي. د چاپلیتسکی پوروړی راغلی اودوی‌دقمار لوبه شروع کړه چاپلیتسکي په‌لومړی قطعه باندې پنځوس زره روبله چل ولاړ اوهغه ئي وګټلي په‌دویمه اودریمه قطعه باندې هم دا ډول چل‌ولاړ اوهرچل ئي وګاټه. دټولو بایلودلو پیسو تلاقی ئي‌و کړه او نور ي زیاتي پیسي یې هم‌وګټلي. لاکن راځیء اوس دخوب وخت دی چه‌خوب وکړو پنځلس دقیقی له‌ښیزو څخه تیري دی رښتیاده چه‌سپیدي خوچاودي دا سمان لمني سپینې شوي.»

ځوانانو ګلاسو نه‌په‌سر واړول او کورونوته روان شول.

دوهمه‌برخه

☆☆☆ (۱)زړه کونتس د کالیوپه کوټه کښي هنداري ته مخامخ ناسته وه دري‌پیغلي‌دهغي په‌څنګ کښي ودریدي یوي‌پیغلي دمخ‌څو برسونه په‌لاس کښي نیولی‌وو دوهمه پیغله دویښتانوسنجاقونه‌په‌لاس‌ولاړه وه‌دریمي پیغلي‌ښځینه‌خولی په‌لاس کښي نیولی وه چه‌دخولی نری فیتي ریښه‌ریښه دپیغلي په‌سپینومړوند ونو خوري وري‌پرتی وي.

کونتس‌دځان په‌سینګار کښي ډیرزیات کوښښ کاوه ولي دا یې نشوای کولای‌چه. ځان ښکلی پیغله وښیي. که څه‌هم کونتس زړه‌وه ولي‌دپیغلتوب ټول عادات‌او خویونه ئي سرتر سره ساتلی‌وو دخپلي ځوانی‌د کالیو موډئي‌په‌دقت سره ساته د کالیو په‌اغوستلو کښي ئي دو مره دقت کاوه لکه چه شپیته کاله

☆(۱)دادري‌ستوری په‌غربی ادبیاتو کښي‌دنوم معناور کوی.

دمخه ئې کاوه. کړ کی ته نژدې یوه پېغله (١) په اوبدلو لګیاوه په دې حال کښې یو ځوان منصبدار کوټی ته ور ننوت اوویې ویل:

ـ سلام انـا.

ـ سلام مود موزل لیزا

ـ انا ! زه یوې غوښتنې لپاره ستاسې حضور ته راغلی یم .

ـ څه شی ؟ پاول!

ـ اجازه را کوې چه زه یو خپل دوست ستاسې حضور ته درو پېژنم اود جمعې په ورځ ئې ستاسې میلمستیاته دځان سره راولم .

ـ میلمستیاته ئې راوله ـ اوس نه ـ هلته ئې ماته معرفی کړه.

ـ ته پرون ❀ ❀ ❀ په کور کښې وې؟

ـ هو هلته ډېره خوشحالی وه مونږ دسهار تر پنځو بجو پورې نڅاو کړه التیسکی ډېره ښکلی وه.

ـ اوه ګرانه! ددې کوم شی ښکلی وایاددې انا (شهزادګی داریه پاترونا) دالیستکی سره په ښایست کښې څه شباهت درلود؟

ـ نه تردې ښکلی وه . . په تیره بیازه فکر کوم چه شهزادګی دار به پترو نا اوس زړه شوې ده .

ـ تومسکی بې فکره ځواب ور کړ . «څنګه زړه شوې ده؟ هغه خواوه (٧) کاله دمخه مړه شوې ده» پیغلې سر پور ته کړ او هغه ځوان ته یې اشاره وکړه . دتومسکی فکر ته داخبره راغله چه دزړې (کونتس) دخپلو همزولو په مرګ خوا بد ېږی اوددې څخه ئې دهغوی مرګ پټاوه. او خپلې شونډې یې وچیچلې .

(١) لیزاد یوې غریبی کورنی وه چه کونتس لویه کړې وه اوددې په کور کښې اوسېده یعنی کونتس ئې دایه بلل کېده .

(کونتس) ته چه دا خبره نوې وه په ډېره آرامی سره ئې واوریدله او وئې ویل

- مړه شوی ده؟ زه نه یم خبره موږ یو وخت په شاهی در بار کښې عینی رتبې ته رسید لی وو او کوم وخت چه پا چا ته معرفی کېد لو نو ملکه . . .

(کونتس) په سلم کرتې بیا خپل لمسی ته په دې حقله قصه وکړه او وروسته ئې ووې: «پاول! ته خو زما سره مرسته وکړه چه پور ته شم

لیزا! زما دنسوار وډبلی چېرې دی؛»

کونتس دهغې درو پېغلو سره د کالو اغوستلو لپاره دپردو شاته ولاړه تومسکی دپېغلې سره یوازې پاتی شو.

(لیزاویت اوانونه) غلی پوښتنه وکړه: تاسې غواړیء څوك معرفی کړیء؟

- نرومو ف! تاسی ئې پېژنیء؟

- نه! نظامی دی که ملکی؟

- نظامی.

- انجنیر؟

- نه سپور ـ ولې تاسې دا فکر کویء چه دی انجنیر دی؛

پېغلې وخندل او هېڅ ځواب ئې ورنـکړ.

د پردونه دبا ندې کونتس ږغ کړ:

- پاول! ماته نوی ناول را واستوه مګر ګوره فکر دې وی چه عصری نه وی

- یعنی څنګه ناول انا؟

- داسې ناول چه په هغه کښې قهرمان خپله مور اوپلار نه وژنی. دمړو یاد یکښې نه وی زه دمړه څخه ډېره وېرېږم.

- داسې ناول خواوس هېڅ نه پیدا کېږی تاسې روسی ناول نه غواړیء؛

ـ آیا روسی ناولو نه شته؟ ښه دی رائی وړه. مهربانی و کړه را ئې وړه.

ـ و بخښیء اناډیر کارلرم و بخښیء.

ـ لیزا ویته او انو نه زه وخت نلرم مګر تاسې ولې فکر کوئ چه نروموف انجینیر دی؟ په دې حال کښې تومسکی له کوټې ووت.

لیزا یوازې پاتې شوه کارئې پزیښو او د کړ کی په کتلو لګیا شوه لږ وخت وروسته هغه ځوان منصبدار د کوڅې په بله خوا کښې څرګند شو د منصبدار په لیدلو سره دلیزا غومبری تك سره شول او بیا یې کارته مخ را وګرځا وه. او سر ئې ټیټ نیولی و. په دې وخت کښې کونتس کالی پوره اغوستی ـ ددې کوټې ته ورننوته او و یې و یـل.

لیزا تکه! هله ورشه چه ګاډی راولی مونږ دهوا خورئ لپاره دبا ندې ځو. لیزا او بدل پر ېښوه او زر زرئې د کار په ټولو لو پیل و کړ.

کونتس بیاږغ کړ ـ ته څه شوې؟ کڼه ئې؟ زر کړه ورته ووایه چه دستی ګاډی راولـی.

پېغلې ځواب ور کړ «دادی په ستر ګو!» او په منډه دباندې ولاړه نو کر کوټی ته ور ننووت د (فرانس پاول الکزندرویچ) را لیږلی کتا بونه ئې کونتس ته ور کړل.

(کونتس) وویل: «ډیر ښه ـ تشکر ورنه و کړه.

لیزا! لیزا! ته چیرې ځغلې؟ د کالو اغوستلو لپاره؟ وخت شته دلته را شه لومړی جلد خلاص کړه ـ په لوړ آوازئې ولو له» لیزا کتاب وا خیست او څو کرښې یې ولوستلې.

(کونتس) وویل: «لږ یې په لوړ آواز ولوله! څه درشوی دی؟ ستا خو آواز ورك شو دا چو کی دلته نژدې راوړه! تردې هم نژدې! نژدې!!» لیزا دوې نورې

پاڼی ولوستلې ـ کونتس آواز وکړ اوویی ویل «دا کتاب پرېږده داڅه چټیاټ دی دا کتابونه بېرته پاول ته‌ه‌ورولېږه تشکر ځنی وکړه . . ولی ګاډی چېرې ده؟ . . »لیزا کوڅې ته وکتل اوویې ویل :«ګاډی تیاره‌ده» .

(کونتس) هو وویل«تادهوا خوری کالی ولی نه‌دی اغوستی ؟زه‌به‌نو هره ورځ تاته انتظار وباسم داډېره ناوړه وضعه ده. »لیزا خپلې کوټې ته منډه کړه درې دقیقې لانه‌وې پوره شوې چه(کونتس) په‌ډېر قهر سره په‌زنګ وهلو پیل وکړ- له‌یوې دروازې څخه درې پیغلې په‌منډه کوټې‌ته ورننوتلې له‌بل ور ه‌څخه نوکر ساه نیولی په‌منډه وروځغاست .

کونتس وویل: «تاسې چېری‌یی‌ء یو نه پیدا کېږ ی ء . ور شی ء لیزا ویت اوا نونه‌ته ووایی‌ء چه‌زه په‌انتظاریم.» لیزا په‌بالاپوښ‌اوخولی کښې د «کونتس» کوټې ته ورننوتله

(کونتس)وویل : «بالاخره راغلې . . دا کالی دې دڅه لپاره اغوستی‌دی خلك ځانته راجلبوی ؟ هواڅنګه‌ده ؟ زه‌فکر کوم چه‌باددی.»

نوکر وویل: «نه‌باداري ! هواډېره ښه‌او آرا مه ده »

«ته‌همیشه خبر نه‌وې خبر ې کو ې »کړ کی یې‌خلا صه کړه : «ر ښتیا ده بادلګېږی اوډ یر سوړ بـاد دی. ګاډ ی بیر ته ولیږ ی ء. لیزا نکه ! مو نږ دهوا خوری لپاره نه‌ځو . هیڅ ضرورت نه‌وچه تاداسې ښکلی کا لی اغوستل. » لیزا فکر وکړ چه زما ټول ژوند دغسې دی. په‌رښتیاچه لیزاډېره بد بخته وه دآرزوخوښی‌یې نه‌وه لیدلی، همیشه‌یې دبل‌په آرزو دژوند شپې سبا کولې.

دانتی (۱)وایی چه«پردی‌ډوډی ترخه‌وی ـ پردی‌زینه پردی‌پل‌نه‌زغمی»ایاددې

(۱) :ـ ایټا لوی مشهور لیکوال.

غوندې دغیر مستقل ژوند تأثیر بل چاهم دومره ښه احساسولای شولکه لیزا ؟

البته کونتس ❀ ❀ ❀ دومره بدخویه ښځه نه وه مګر څر نګه چه ددې ژوند دنورو په اوږو واودیوې مظلو مې ټو لنې په منځ کښې بې آ مرا نه ژوند کاوه نویو ډول مخصوص کر کټر یې درلود. ددې خوی اوعادات دهغه چا په شان ښکارېدل چه خپل ژوندیې خوړلی وی اودنوی عصر اوزمان سره یې عادا ت اړخ نه لګوی دهرشی څخه بیګانه معلومیږی بخل اوخود پر ستی یې انتها ته رسیدلی وه ددې غرور بتونه شرمول هرې میلمستیاته ضرور غوښتل کیده اما دمیلمستیا د کوټې ټیاره کونج یې چاته نه ور کاوه سره اوسپین پوډر به یې په مخ وهلی، اودپخوانی موډ کالی به یې اغوستی، وودا سې به ناسته وه لکه دمړما نخا نې بدرنګه مګر لازمی مجسمه.

ټول به ددې احترام ته راتلل مګردچا سره به یې صحبت اومجلس نه کا وه دټول ښار خلك به ددې کورته ورتلل په ډ یر دقت سره به یې دا حتر ام مرا سم پرځا ی کول ـ ولې ددومره خلکو نه یې یوه څیره هم نه پیژندله .

ډېر نو کران ئې په کور کښې لوی شول خیټې به یې پر ښوې سپین زیری به شول هرڅه ئې چه غوښتل کول ئې ـ ولی (کونتس) په یوه پسې هم ستر ګې نه اړه ولې اوټولو دزړې بوډی څخه غلا کوله دلیزا وظیفه داوه چه چای پیالو ته واچوی اودزیاتی بوري دمصرف په مقابل کښې ښکنځلې په غاړه واخلی دابايد نا ولو نه (کونتس) نه ولولی اودلیکو الو دټو لو غلطیو ګناه دد ې په غا ړه وه . لیزا په هواخواری کښې د (کونتس) ملګری وه اود خرابې هوا او خرا بې لار ې ګناه هم ددې پرغاړه وه لیزا ټا کلی معاش درلود. ولې هیڅکله ئې پوره نه واخیستی په عین زمان کښې لیزا مجبوره وه دمجلس دغړو پرسویه مفشن کالی واغوندی

لیزا په مجلس کښې ډېر غریب رول درلود. ټول خلك یی پېژندل. ټولو داډول رویه ورسره کوله چه ګویا هېڅ یې نه پېژنی په میلمستیا کښې به یې هغه وخت نڅا کوله چه نورې پیغلې به نه وې.

لیزا دخپل ځان موقف لیده په مجلس کښې شریکې میرمنې چه به کله تشناب ته تللې نو لیزا به یې تر مټ نیوله چه هلته ددوی کالی ورسم کړی.

لیزا ددې بدبخت ژوند په رمز ښه پوهیده، چار چاپېره به یې وکتل. او په ډېره نارامی سره به یې دداسې سړی انتظار یوست چه ددې بدبختی څخه یې خلاصه کړی مګر ځوانانو په انتخاب کښې ډېر غور کاوه لیزا ته ئې هیڅ توجه نکوله. که څه هم لیزا. سل ځلې دهغو پیغلو څخه ډېره ښه وه چه شپه ورځ به ځوانانو دهغوی په شاو خوا کښې غومبر وا هه. ډېر ځله به یې هغه ښکلی او مفشنه مهمانخانه پریښوله دسترګو وچولو، زړه تشو لو لپاره به خپلې غریبې اوخړې پړې کوټې ته ولاړه په هغه کوټه کښې نور هیڅ شی نه و. یوازی یوه کوچنی هنداره، یو رنګ شوی چپر کټ، دکالیو الماری اود تکې پر ځای دکاغذونو پرده دهغې په کوټه کښې دهرچا په نظر ورتله دبرق پر ځای یې په کوټه کښې په یوه مسی شمع دانی کښې کمزوری شمعه له ورایه لیدل کیده چه تته رڼا ئې کوله.

دالاندې خبره، یوه ورځ دهغه ماښام څخه وروسته چه زمونږ دداستان په شروع کښې بیان شوه او یوه هفته دهغې صحنې دمخه چه اوس به ئې بیان کړو، پېښه شوه.

یوه ورځ لیزا داوبدلو په کار باندې دخپلې کوټې په کړکۍ کښې لګیاوه ناڅاپه یې کوڅې ته وکتل ځوان انجینیر یې په سترګو شو. چه بې حرکته ولاړو

اودلیزا کړ کی ته ئې ستر ګې رډې نیولی وې. لیزا سرټیټ کړ او بیا په خپل کار لګیاشوه ـ پنځه دقیقې وروسته یې بیا د کوڅې خوا ته وکتل، هغه ځوان همدغسې په خپل ځای وچ کلك ولاړو لیزا دا عادت نه در لود چه دهر چا سره دخولې خندا اوسطحی راشه درشه وکړی د کوڅې د کتلو څخه یې ستر ګې راوګر ځولې تقریباً دوه ساعته په خپل کار لګیاوه او سر یې هیڅ پور نه نکړ ـ ډوډۍ راوړل شوه لیزا پورته شوه دخپل کار په غونډو لولګیا وه بیا یې نا څا په کوڅې ته ستر ګې واوښتې ـ هغه منصبدار دپخوا په شان په خپل ځای ولاړو لیزا ته داخبره عجیبه ښکاره شوه دډوډۍ څخه وروسته په اضطراب سره کړ کی ته ورنژدې شوه مګر هغه ځوان منصبدار له ځا به تللی وو . لیزا هغه منصبدار هیر کړ . . .

دوه ورځې وروسته کله چه لیزاد (کونتس) سره ګاډۍ ته تله په هغه ځوان بې بیا ستر ګې و لګیدې چه دننو تو دروازې ته نژدې ولاړو مخ یې دیت لرو نکی بالاپو ښ په غاړو کښې پټ کړی و یوازی تورې ستر ګې یې دشپولاندې ځلقیدې.

لیزا ډیره وویریده که څه هم چه دخپل نرس دلیل یې نه وپیژانده په ډیره لړزه سره ګاډۍ کښې کښیناسته . کله چه هغوی بیرته کورته راغلل، لیزا کړ کی ته وروځغستل. منصبدار په پخوانی ځای کښې کلك ولاړو اودوې ستر ګې ئې دلیزا کړ کی ته نیولی وې لیزا د کړ کی څخه څوقدمه لرې شوه. اما ددې په زړه کښې یوه داسې وسوسه اوقوی احساس راپیدا شوی و چه ددې لپاره با لکل بی ساری و .

ددې وخت څخه ورسته داسی ورځ نه وه چه هغه ځوان به ددې د کورد کړ کی مخامخ په یو معلوم ساعت نه پیدا کیده دمنصبدار اولیزا ترمنځ یو غیر مستقیم تماس پیدا شو او کله چه دا به په خپل کار لګیاوه نو دهغه ځوان منصبدار دراتګ وخت به ئې

احساسولی شو. په هغه وخت کښې به یی سر پورته کړ. ورځ په ورځ یې د منصبدارخواته د کتلو اندازه زیاته شوه. داسې ښکاریده چه هغه ځوان دلیزا درو یې په مقابل کښې ډیر ممنون و. لیزا په خپلو سترګو لیده چه کله به ئې دهغه منصبدار سره روه سترګې خلورشوې. سپین غومبری به یې تك سره شول. یوه هفته وروسته لیزا به دهغه ځوان په مخ کله کله مسکا وکړه . . .

کوم وخت چه تومسکی د (کونتس) څخه د خپل دوست دمعرفی اجازه غوښتله دغریبې پیغلې زړه ورپیده مګر کله چه پوه شوه چه نروموف انجینیر نه بلکه د سپاره ګارډ منصبداردی ډیر افسوس یې کاوه چه په سرسری پوښتنه سره یی دا سې چټی سړی ته لکه تومسکی خپل راز پاش کړ.

ګیرمن دیو مروسی شوی المانی زوی و دپلار څخه لږه دارایی او پیسې ورته پاتې وې. ګیرمن عقیده درلوده، چه باید خپله ازادی لا زیاته وساتی او دا سبب و چه حتی د خپل میراث څخه یې فی صدی ګټه هم نه اخیسته، او یوازې یې په خپل معاش ژوند کاوه دهوس او عیاشی موقع یې ځان ته نه ورکوله ګیرمن مرموز او باوقاره سړی و او ملګرو یی ډیره کمه موقع در لوده چه دده په زیات بخل باندې خند او کړی ګیرمن تند خویه او غښتلی احساسات درلودل دده سختوالی ددې سبب شوی و چه د ځوانی زیاتره عادی غلطیو څخه یې وساتی دمثال په توګه ګیرمن دقمار بازی روحیه درلوده مګر هیڅکله یې په لاس کښې قطعه نه وه اخیستی ـ ده عقیده درلوده لکه چه د مخه هم وویل شوه زه دانشم کولای چه خپلې ضروری پیسې ددې لپاره قربانی کړم چه نورې زیاتې پیسې ورباندې وګټم ددې سره سره تمامه شپه به د قطعه بازی په مجلس کښې ناست وپه ډیره هیجانی وضع سره به یې دلوبې ټولې مرحلې کتلی ـ دد روقطعو نکل دده په روح زیاته اغیزه کړې وه تمامه شپه یې دهغه په حقله

فکر کاوه. دبلې ورځې په ماښام ګیرمن دپیتر بورګ په کوڅو کښې ګرځیده او فکر یې دځان سره کاوه.

«څه به وشي که دازړه (کونتس) زده کړی چل او سرماته څرګند کړی - اودا درې وفاداري قطعې ماته وښیي - ایازه نه شم کولای چه په دې چل سره خپل بخت وازمایم. که زه ورته معرفي شم - او ددې زړه ته لار پیدا کړم نو ممکنه ده چه یارئې شم. مګر ددې ټولو شیانو لپاره وخت ضروردی. ولې (کونتس) اوس ۸۷ کلنه ده ممکن چه دوه ورځې یا یوه هفته وروسته مړه شي... هو همدا نکل ایا په دې نکل باندې زه باید اعتماد وکړم... نه - زما درې وفاداري قطعې دادی: سنجش - تعادل - او د کار سره مینه؛ دا به زما هستي دوه چنده او اوه چنده زیاته کړی او زما د پاره به ارامي او خپلواکي برابره کړی» په دې فکر کښې روان و - په پای کښې دپترو بورګ په یوه کوڅه کښې دپخوانۍ موډ سره جوړ شوی کورمخی ته راغی چه تر ټولو دروازو یې رڼا زیاته وه - کوڅه سر تر سره دګاډیو څخه ډکه وه - ځانګړی ګاډۍ یوه په بله پسې دهغې دروازې په لوری روانې وې. هره دقیقه له ګاډیو څخه یا دښکلو پیغلو ښکلي پنډۍ یا دعسکري منصبدارو شور کوونکي موزې یا دد پلو ماتو جورابې او بوټونه ښکاره کیدل. ددروازې پیره دار په یوه خاص فیشن او جګه غاړه و لاړو میلمانه به یو یو د کوڅیو او برساتیو سره دهغه په مخ کښې تیر بدل. ګیرمن ود رید له هغه پولیس څخه چه په کونج کښې ولاړو پوښتنه یې وکړه: داد چا کوردیء.

پولیس ځواب ورکړ: د (کونتس)

ګیرمن ور پیده او هغه حیرانو ونکی نکل یې بیا په مغزو کښې راتا وشو ګیرمن دځان سره دا فیصله وکړه چه د کورچار چاپیره وګرځی. بیا د کور به او د هغه دلیاقت او مهارت په شاوخوا کښې فکر وکړی په دې فکر کښې دومره ډوب شوی و

چه ډېر ناوخته خپلې غریبې کوټې ته ورسید. ډېر وخت یې رډې سترګې نیولی وې خوب نه ورته. او کله چه ویده شو په خوب کښې یې دا فکر کاوه چه دده مخې ته قطعې، زرغون میز، دنوټونو او دطلاؤ انبارو نه پراته دی یوه قطعه په بلې پسې میدان ته اچوی لوبه په ډېر جراءت سره کوی - او هره پلا لوبه ګټې. طلا وې مخ ته انباروی، او نوټونه جیب ته اچوی ډېر تاوخته له خوبه راپورته شو او د هغه خیالی شتمنۍ دور کید وله امله ئی یو سوړ اسو ېلی له خولی وکیښ.

ګېرمن د ښار دګرځید ولپاره دباندې ولاړ او بیا د کونتس کور دمخی ته ورغی داسی ښکاریده چه یوه نامعلومه قوه ئی د (کونتس) د کور په اورې ورکشوی ګېرمن په خپل ځای ودرید او د کړکیو په کتلو یی پیل وکړ. په یوه کړکې کښې یی دیوې ښځې د سرتورو ویښتان ولیدل چه د کتاب یا کوم بل شی دپاسه ځوړند شوی وو مغه سر پورته شو ګیرمن دهغه ویښتانو لاندې تازه مخ او تورې سترګی ولیدلې فقط دغی دقیقی دده ټول سرنوشت وټاکه.

دریمه برخه

لیزا خپله بارانی خولی لاد سره نه وه ایسته کړی چه د (کونتس) زغ پورته شو او لیزا ته امروشو چه ګاډۍ راولی ګاډۍ تیاره شوه دوی دهغه په لوری روان شول دوومزد ورانو (کونتس) دلیچو نه نیولی وه ګاډۍ ته ئی ورپورته کړه لیزا د ګاډۍ دا رابی په څنګ کښې منصبدار انجینیر په نظر شو دلیزا لاس یی ونیولیزا او ویرېده ددې ویره لانه وه کراره شوی چه ځوان له هغه ځایه ورك شو دلیزا لاس ته یی لیك ورسا وه او لیك دلیزا په لاس کښې پاتی شو لیزا دهغه لیك په دستکش کښې پټ کړ او تمامه لارد هغه په چرت کښې دومره غرقه شوی وه چه نه ئی څه لیدل او نه ئی څه اوریدل (کونتس) عادت درلود چه په ګاډۍ کښې به یې هره ګړۍ

پوښتنی کولې دازمونږ مخامخ څوك دی، دهغه پل نوم څه شی دی، په هغه تخته باندې څه لیکل شوی دی ؟ لیزا اګرچه د (کونتس) په څنګ کښی نا سته و ه ا ما دخیال مرغی یی په بله نړۍ کښې ا لوتنی کولې په خبره نه پوهیده مګر ځواب به یی ور کاوه پو ښتنه کوم ځای ، ځواب چیری؟ (کونتس) په قهرشوه: ګرانی! په تاڅه وشول ولی دومره بی شعوره یې ، ته اورې یا نه پو هېږې ؟

باداري ! زه خوروغې خبرې کوم لیونی هم نه یم .

دلیزا خبرې دومره په ستونی کښی وې چه ددې نه پرته بل چانه اوریدې کله چه د کور په لوری روان شول خپلی کوټی ته یې منډه کړه په ډېره وارخطایی سره ئی ددستکش څخه لیك راو یست دپاکټ سرنه وتړل شوی . په اوستلوېی لګیا شوه د لیك هر توری دمینی پیغام ډېر خوږ اوله ویاړ څخه ډك وچه سرترسره دالمانی نا ولو نو څخه اخیستل شوی ؤ . لیزا په المانی ژ به نه پوهیده دالماتی ناولو نو سره نااشناوه له دې سببه په لیك ډېره خوشاله شوه مګر په عین زمان کښې ډېره مضطربه هم وه دا اومړی ځل وچه د ی، د یوه ځوان سره دلیك په ذریعه تماس ونیوه دګیرمن له حده زیاتې زړورتیا لیزا و ویروله اودځان سره ئی وویل ماده سره ډېره بې پروارویه کوله . زه باید څه و کړم ایا په کړ کی کښی کښیناستل پرېږدم . زه باید دومره بی پراویی غوره کړم چه هغه ځوان منصبدارداډول نوری زیاتی غوښتنی ونکړی . یا باید دغه لیك ده ته وروا ستوم یا باید ښه وچ او سوړ ځواب ور کړ شی . هیڅ څوك نه وچه لیزا ته مشوره و ر کړ ی نه ملګر ی نه لاوښوونکی با لا خره ئی د ځان سره د ا فیصله و کړ چه ځواب ور کړ ی.

دمیز څنګ ته ور نژ دی شوه قلم او کاغذ یی واخیست په فکر کښې ډوبه شوه څو ځلې ئی لیك ولیکی او بیا به بی څیری کړیو ځل به دلیك کلمی ډېرې سستې

اوترمی ورته ښکاره شوې بل ځلې به هغه ورته ډېرې سختی اووچې ښکار یدې یه اخر کښې په دې بریالی شوه چه څوپه زړه پورې کرښې ورته ولېکی لیزا یه خپل لیك کښې ګیرمن ته ولیکل « زه په د ې پوره باور لرم چه تا سی شر یف نیتونه لرىء تاسی نه غواړىء چه په د ې عاقبت نااند یشه عمل سره ماتوهین کړىء مګر زمو نږ اشنائی نه باید په دې ډول سره شر و ع شو ی وا ی ستاسی لیك بیر ته در ا ستوم هیله کو م چه په ر ا تلو نکی وخت کښې ما مجبو ر ه نکړىء چه ستاسې ددې جوتې (Unsaved) نارا می په مقا بل کښې شکا یت و کړم » بله ورځ کله چه ګیرمن په کوڅه کښې تیریده دلیزا نظر په هغه ښخ شو دستی له کټه پورته شوه ، سالون ته ولاړه کړ کـی یې خلاصه کړه کو څـې ته دګیرمن مخې ته ئې لیك وغورځاوه ګیر من لیك ته ور نژدې شولیك ئې واخیست دخوږ ودو کان ته ننوت پا کټ یې خلاص کړ په پا کټ کښې ئې خپل لیك ا ودلیزا ځواب دواړه پیدا کړل دلیك ځواب یې پخوا سنجولی وددې پېښې په فکر کښې ډوب کورته ولاړه درې ورځې وروسته یې دیوې ځوانې برند ستر ګې میر منې په لاس چه دخوږوپه دو کان کښې یې کار کاوه لیزا ته لیك ولېږه . لیزا په ډ یر اضطراب سره لیك خلاص کړ اول په دې فکر چه دامیرمن خپل پورغواړی و لې لاس په لاس یې دګیرمن لیك وپیژاند اووبې ویل :

ـ ګرانـې !تاسهوه و کړه دالیك په ما پورې کومه اړه نه لری. برندستر ګی میرمنې دعارفانه تجاهل په ډول مسکاو کړه او په ځواب کښې یې وو یل : نه ! داپه تاپورې اړه لری ـ مهربا نی و کړه . لیزا په بېړه لیك و لو ست ګیر من په لپك کښې د ملاقات غوښتنه کړ ې وه .

لیزا وویل : داسړی خوزه نه پیژ نم .

لیزا په لیك کښې په بیړه سره د مطالبې درخواست او دګرمن په کار اچولی شوی وسیلې ډېره وو یرو له .

مخ ئې راوګر ځاوه اوویې ویل : دالیك زما د پاره ندی لیکل شوی .

دګیرمن لیك ئې ټوټه ټوټه کړ .

رو یبارې وویل که دالیك ستاسې دپاره نه وای نوولې مو ټو ټه ټو ټه کړ ؛ مابه هغه سړی ته پس وروړی وای دلیزا رنګ ددې خبرې په اوریدلو سره تك سور شو اووی ویل :

ـ ګرانې ! مهر باتی و کړیء بیاچه ماته داډ ول لیکونه رانه وړې . هغه چاچه تاسې رالیږ لی ویء داخبره ورته و کړیء چه تاسې باید وشرمیږیء.....

مګر ګیرمن دخپلو لیکونو سلسله ونشکوله لیزاته یې په مختلفوو سیلو لیکونه ورلیږل . دالیکونه چه لیزاته لیږل کیدل دالمانی ژبی اثر په کښې نه و په دې لیکونو کښی دګیر من هیجا نی حا لت له ورایه ښکاریده . ګیرمن په هغه ژ به خبرې کړ ی وې چه د ده لپاره مخصو صه وه . په دې لیکو نو کښې که له یوې خواد غوښتنې ټینګار مو جود ونو دبلې خوا دخیال زښته بی نظمی په کښې پر ته وه هر لیك چه به لیزاته ورسیده هغه به یې دځان سره سا ته لیزادد ې لیکو تو دلوستلو نه ډ یره زیا ته خوشحا لی ا حساسو لـه . په ا خر کښې یې دافیصله و کړه چه دې ټولو لیکونوته ځوابو نه ور ګړی هرڅومره مو ده چه په هغو لیکونو تیر یده د ځوا ب موا د یی زیاتیدل اود لیك ځوا ب نرم کـید ه بالاخره یې دالاندې مکتوب دګیرمن مخې ته د کړ کـی څخه ورغوځار کړ

« نن د ✲ ❁✲ د مختار وزیر په کو ر کښې میلمستیاد ه ـ (کونتس هلته ځی مونږ دشپې ترد وو بجو پو ر ې هلته یو ـ داستاسې د پا ره موقع ده

چه زما سره و وینی ء کله چه (کونتس) ولاړه ـ نو احتمال شته چه د دوی مزدوران یوه خوابله خواتیت شی ـ د کالو په کوټه به یوازې پیره دارپاتې شی . مګردی هم عموماً خپلې کوټې ته ځی ته دشپې په پولس نیمو بجوراشه مخامخ په زینه پورته شیء که څوك مو هلته ولیدل نوپوښتنه وکړه چه ایا (کونتس) په کور کښې شته که نه ؟ ددې پوښتنې په ځواب کښې به تا سې ته وو یل شی چه هغه په کور کښې نشته که ستاسې دځواب په مقابل کښې څوك پیدا شو ل ـ نو په دې صورت کښې بله چاره نشته مجبوریا ست چه خپل کور ته بیر ته ولاړ .

مګراحتمال شته ـ چه تا سې د هیچا سره مخا مخ نشی ء . مزد و رې پیغلې به ټو لې په یوه کوټه کښې نا ستې وی ـ د کا لیو په کو ټه کښې کینې خواته ولاړشه بیا به مستقیماً مخامخ ولاړشې تر څو چه د (کونتس) دخوب کوټې ته ورسیږې دخوب په کو ټـه کښې د پردې شا ته دوې کوچنی دروا زې د ی ښی خوا ته دروازه هغې کوټې ته لارلری چه هلته (کو نتس) هیڅکله نه ور ځی . کینې خوا ته بله د روا زه د ه چه » د هلیزته لارلری ـ هلته به یوه پیچلـی زینه ووینې داز ینه زما کوټـې ته لار لری »

ګیرمن د ټا کلی وخت په انتظاردپرانګ په شان په ډیره وارخطا ئی سره د پیده دشپې تیك په لسو بجود (کونتس) د کور مخ ته ور سیده هوا ډیره خرابه وه. باد غورس کاوه خپره خپره واو ره لو یده کو څې تشې پر تې وې د څرا غو تنه رڼا ښکاریده کله کله به کوم یوګاډیوان دنا بلدو مسافرو په لټون پسې هغه خوا دغه خوا آس ځغلاوه ګیرمن یوازې عسکری در یشی اغو ستی وه، نه په واو ره پوهیده اونه یې ساړه حس کولو په اخر کښې د(کونتس) ګاډی راغله ـ ګیر من

لیدله چه څنګه کږه بوډۍ دمزدورانو په مټو نوراو ړی شوی وه. دسمور په پوستین کښې یې ځان تاو کړی ؤ ورپسی لیزا پیدا شوه چه په سر کښې یې تازه ګلان ټومبلی وه اوسره بارانی یې اغوستی وه دګاډی دروازه وتړل شوه او په او بلنه واوره مخ په وړاندې روانه شوه پیره دار د کور دروازه وتړله په کړکۍ کښې رڼا تته شوه ګیرمن د(کونتس) د کور په شاو خوا کښې په چکر پیل و کړ څراغ ته نژدی شوه، ساعت ته یې و کتل دیوولسو بجو څخه شل دقیقې تیری وې د کوڅې تر څراغ لاندې وچ کلك ولاړو. سترګې یې دساعت ستنوته نیولی وې اودپاتې دقیقو انتظار یې یوست چه پوره یوولس نیمې بجې شوې ګیرمن د(کونتس) د کور صفې ته ورننوت بیا مخامخ د کالیو روښانې کوټې ته ورغی پیره دارنه ؤ په منډه په زینه پورته شوه. انتظار د کوټی دروازه یې خلاصه کړه یونوکر دڅراغ لاندې په یوه زړه اوچټله آرام چوکۍ باندې ویده و ګیرمن په مضبوطو قدمونو سره دهغه ترمخ تیریده د میلمنو کوټه اوسالون دواړه تپه تیاره وو دانتظار کوټې څراغ تته رڼا هغې ته ورلیږله ګیرمن د خوب کوټې ته ننوت دپخوانیو مذهبی تابلو ګانو په مخکښې طلایی لاټین ایښی و. تته رڼایې خپروله. دیوالونه سرتر سره په مقوایی رنګدار کاغذفرش شوی وو دیوالونو ته نژدی مستعملې پټ لرونکی کرسۍ چه طلایی رنګ یې تللی و په پرپشا نه حال پرتې وې . په دیوال باندې دوه لوی عکسونه چه په پاریس کښې د(میرمن لبرون) په ګوتو رسم شوی ؤ ځوړندوو .

په یوه عکس کښې تقریباً یو (٤٠) څلویښت کلنۍ سړی رسم شوی ؤ سره غومبری اوچاغه تنه یې له ورایه ښکاریده . روښان زرغون یونیفورم یې په ځان ؤ په سینه باندې یې دستوری نښان ټومبلی ؤ په بل عکس کښې ځوانه ښکلی ښځه چه بزه یې

دتوتـی ښشان کزه‌وزه رسم‌شوی وه‌دسراوتوشوی ویښتان یې ښکاریدل په‌پو ډر شوو ویښتانو کښې یې‌دګلاب ګل‌رسم شوی‌ؤ. دکوټې په‌ټولو کو تجو نو کښې سپینې چینې، دشپنو پیغلو وړې مجسمې دمشهور استاد (لیری) په‌لاس جوړشوی سرمیزی ساعت، کوچنی صندوقونه. ببوزی اوداسې نورې دښځو مختلفې باز یچې ځای په‌ځای ولاړې وې. چه‌داټولی دتیرې پیړۍ په اخر کښې دما نګل پیر له بالون اود مسمر (مګنیتیزم Magnetism) سره‌په‌عین وخت کښې‌اختراع شوی‌وې ګیرمن دپردو منځ‌ته‌ورتیرشو. دپردوترشا یو کو چنی داو سپنی چپر کټ پروت‌و ښی‌لاس‌ته یوه‌دروازه وه‌چه‌یوې خصوصی کوټې ته‌بې لار درلوده کیڼې خو اته بوه‌بله لاروه چه‌دهلیز ته ورپرې شوې‌وه‌ګیرمن دوهمه دروازه خلاصه کړه..هغه نرۍ پیچلې زینه‌یې ترنظرشوه چه‌دغریبې پېغلې کوټې ته‌ورغزید لی‌وه.. مګر ګیرمن بیرته ولاړ اوتیارې خصوصی کوټې ته ورننوت

وخت‌ورو ورو تیریده . چوپه چوپتیاوه د میلمنو په کوټه کښې ساعت۱۲بجې اعلان کړې په‌ټولو کوټو کښې ساعتونو یوپه بل پسې د۱۲ بجوزنګونه ووهل اوبیا؛چوپ شول. ګیرمن سړې بخارۍ‌ته په‌ولاړی تکیه کړې وه ګیرمن با لکل ارام اوزړه یې‌دهغه سړی‌په شان‌چه یوه خطرنا ك ولی لاز می کا رته یې اقدام کړی وی-ورپیده ساعت دیوې ختم اوددوو شروع اعلان کړه.

ګیرمن راڅیرمه شوه -ګاډۍ راورسیده اوودریده . دګاډۍ دپایدان‌دلو یدو اواز پورته‌شو. دکور په خلکو واوله ګډه شوه - یوه خوابله‌خوایې په ځغا سته پیل‌و کړ- چیغې‌پورته شوې کور سر ترسره رڼا شو دخوب کوټې‌ته درې زړې مز دورې ننو تلې . (کونتس) په داسې حا ل کښې چه فقط سا ه یی چلید ه نوره شومه یې ختلې وه . کو ټې ته ننوتله ، او په آرا م چو کی کښینا سته

ګیرمن (کونتس) تەدوره لەوت نه کتل لیزا دده لەمخەتیریده دګیر من په زړه کښې یوداسې نامعلوم احساس پیدا شو ـ چه فقط دشرم سره یې شباهت در لود مګر له لږه وختەوروستەورك شو ګیرمن لکەډبره و چ کلك ولاړ و (کونتس) داینې پەمخکښې کالی و کښل نو کرانو ددې لەسره څخه خولی وا خیسته چه دګلاب ګلان پکښې ټومبلی وو مصنوعی ویښتان یې له خپل کټیلی سره ایسته کړل دویښتانو سنجاقو نەلکه باران ددې دپښو پەاطرافو کښې لو یدل . سپین زربفت لاندینی کمیس یی د(کونتس) دپړسیدلواوپنډو پښونه تاور اتاوولید. ګیرمن د(کونتس) د کالیو ایستلو پټەننداره کوله پەاخر کښې دخوب لەجا کټ اوخولی سره کښناسته. داکالی چەددې دپاخەعمر سره برابر وو پەهغه کښې دومره بده لکەپخوانه ښکاریده . دټولوز ړو خلکو پەشان (کونتس) هم بی خوبی در لوده کلەچەبی کالی ایستل کړ کی تەنژدې پەارام چوکی کیناسته اومزدورې پیغلې یې لەځانه لرې کړې . شمعې یوړې شوې په کوټه کښې یوازې لانټین پاتې شو .

د(کونتس) څیره تکه زیړه ښکاریده غټو او اوږدو شونډویې حرکت کاوه ښی او کینې خواته ځنګید له په چړ خینو ستر ګو کښې یې هیڅ دفکر نښې نەښکاریدې کەچالیدلی وای نودافکر به یې کړ ی وای چه دد ې ویروو نکی زړې بوډی یوەخوا اوبله خوا ځنګیدل فقط ارادی نه ـ بلکه دپټ برق په وسیله اجرا کېږی .

ناڅاپه د(کونتس) ګونځې ګونځې مخ په بل ډول شو ـ شونډې یې دحرکت څخەودرېدې ـ سترګې یې ژوندی شوې مخامخ یونا اشنا اوپردی سړی ولاړو .

«هغې پەغلی آواز وویل ـ دخدای دپاره مەوېریږیء . . . مەو یرېږ یء زه نه غواړم چه تاسې ته ضرر ورسوم ـ زه فقط ستاسې دمهربانی لپاره دلته راغلی یم.»

بوډی په‌چوپه خوله ورته کتل . د اسې ښکاریده چه‌هیڅ نه‌اوري - ګیرمن په‌دې فکر چه داخو کنه‌ده بیخی غوږته ورنژدې شو هغه‌وړاند ینی خبرې یې بیا تکرار کړې بوډی دپخوا په‌شان چوپه‌وه

ګیرمن خپلو خبروته ادامه ورکړه : تاسې کولای شیء چه زما زوند خوشبخته کړیء . ستادپاره په‌دې کار کښې هیڅ زیار اوزحمت نشته . زه خبریم چه‌تاسی ددرو قطعو پرله پسې چل پیش بینی کولای‌شیء . . .

ګیرمن خپلې خبرې بس کړې . داسې ښکاریدی چه (کونتس) دمطلب اصلی ټکی‌ته ورسیده - ددې خاموشه وضعه‌دا سې معلومیده چه دخپلو ځوا بونو لپاره کلمې لټوی په اخر کښې یې وویل : «داټو که وه قسم دی چه دا خبره ټو که وه.»

ګیرمن په‌قهر ځواب ورکړ : په دې باره کښې‌ټو کې مه کوی ء . بیا یې چاپلیټسکی یاد کړ . تاسې دهغه‌سره مرسته وکړه اونوموړی ستاسې په مرسته بایللی پیسې بیرته راوګرځوای . داسې‌ښکاریده چه (کونتس) متردده شوه اوپه مخ کښې‌یې دتشویش نښې ظاهرې شوې . مګر لږ وخت ورو سته په بوډی هغه پخوانی دبی حسی حالت راغی . .

ګیرمن خپلو خبروته ادامه ورکړه . تاسې کولای شیء چه‌دادرې وفادارې قطعې‌ماته راوښیاست . (کونتس) چوپه‌وه ګیرمن بیا خپلې خبرې ونیولې . تاسې دچا دپاره داراز پټ‌ساتیء دلمسودپاره ؟ هغوی اوس شتمن‌دی . دوی حتی دپیسو په‌ارزښت نه‌پوهیږی . ستاسې دا درې قطعې دمسرف سړی سره هیڅ مرسته‌نه‌شی کولای هغه‌څوك چه‌دپلرو نومال‌نه‌شی ساتلی‌په‌غریبی کښې به‌مړشی

دهغوی سره دشیطان هیڅ چل مرسته نه شی کولای. زه مسرف نه یم. زه د پیسو په قدر پو هېږم ستاسې دادد روقطعو چل ښودل ماته بې ګټې کار نه دی خو . . .

ګیرمن خبرې بس کړې او په رپیدلی حال یې دځواب په انتظار ولاړو (کونتس) هیڅ نه ویل ګیرمن ورته په ګونډ وشو .

ګیرمن وویل « که ستاسې زړه ته کله دمینې احساس لوید لی وی ؛ که دمینې خوشحالی مو په یادوی ، که ستاسې په سینه کښې کله انسانی احسا ساتو او عو اطفو لار پیدا کړی وی ؛ که تاسې حتی په ټول ژوند کښې هغه وخت چه دنوی پیدا شوی زوی په ژړامو مسکا کړی وی نود ښځې . . دملګری . . . دمور داحسا ساتو په نوم حتی هر شی چه تاسې ته په ژوند کښې مقدس وی دهغه په نوم زما غوښتنه قبوله کړیء او خپل رازماته څرګند کړیء . تاسې به په دې پټ راز باندې څه و کړیء .

ممکن ددې راز پټ ساتل ددې لویې ګناه او ابدی عذاب دځان سره ساتل د شیطان سره اقرار ته اړه لری تاسې فکرو کړیء چه اوس خو زړه شوی یی ممکن به دې نژدې ورځو کښې مو ژوند پای ته ورسېږی زه دېته تیاریم چه ستاسې ګناه په غاړه واخلم . ولې په دې شرط چه تاسې دا پټ رازماته څرګند کړیء . تاسی خو دیته فکرو کړیء چه دیوه انسان خوشبختی ستاسې په لاس کښې پرته ده نه یوازې زما بلکه زما زامن لمسیان او کړوسیان به ستاسی دیادونې قدر کوی ـ ستاسې یادونه به ترډېره وخته بورې دیوې مقدسې خاطرې په شان دځان سره وساتی . »

بوډی (کونټس) ددې دومره خبرو په مقابل کښې هیڅ ونه ویل . ګیرمن پورته شو غاښونه یې وچیچل او ویې ویل : زړې چادوګرې ! زه به تا مجبوره کړم چه ځواب را کړې . په دې حال کښې یې تفنګچه دجیب څخه راویستله . کله چه (کونټس) تفنګچه ولیده پر وجود یې ددرپم ځل دپاره یو سخت هیجان راغی . په سر یې اشاره

و کړه اولاس یې پور ته کړ. داسې ښکار یده چه په لاس د ې زمدا فعه کوی . . .
په شاولو یده. . . بی حر کته په ځای پر یوته .

گیرمن د (کونتس) لاس و نیو او ویې ویل بس دی د کوچنی په شان لوبی مه کوی
دور وستی ځل لپاره داپو ښتنه کوم چه ایادادرې قطعی راښیی که نه هو که نه ؟
(کونتس) همد غسې بې هوښه پرته و. گیرمن په دې پوه شو چه هغه مړه شوې ده.

خلور مه برخه

لیزا په خپله کوټه کښې ناسته وه لاتراوسه یې دمیلمستیا جامې بغاړه کښې وې په ډېر
وکر کښې ډوبه وه کله چه کورته راغله مزدوره پیغله چه په هغه حال کښې ویده وه
په وارخطایی له ځایه پورته شوه چه دلیزا خدمت و کړی. ولې لیزا هغه له ځانه
لیرې کړه اوویې ویل چه زه خپل کالی په خپله و باسم په رپیدلی حالت کو ټی ته
ننوتله. په دې هیله چه گیرمن به هلته بیاوومی اوهم یې د اغوښتل چه وی با ید هلته
رانشی ولی په لومړی نظر یې هلته هیڅوك ونه لیدل. له خپله خدایه یې شکر و کیښ
چه داسې مانع منځ ته راغی چه زمونږ ملاقات ونشو. دمیلمستیا کالیو سره په ځای
کښینا سته. هغه پیښې چه په دې دو ه ورځو کښې موده یعنی درو هفتو کښې منځ ته
راغلی وې. دهغو په یاد ولو یې پیل و کړ .

دځان سره په دې فکر شوه دوی درې هفتې لا پوره شوی نه دی چه دلومړی ځل دپاره
مې دا ځوان سړی د کړ کی نه دباندې ولید بیامودلیك په وسیله دبو بل سره تماس
پیدا کړولی د ی په دې موده کښې موفق شو چه له ماڅخه دشپې ملا قات واخلی .
دده نوم می فقط دده دلیکونو څخه وپیژاند ځکه چه ځینی لیکونه یی په خپل نوم
امضا کړی وو پخوا یې هیڅکله خبری نه وې راسره کړی د آواز سره یې نا اشناوم -
حتی د ده په حقله مې هیڅ نه و وا و ر ید لی . . . تر دې ما ښام پو ر ې !

ډیر عجیب کار دی!! یه همدغه ماښام تومسکی په مېلمستیا کښې پیغلی (پرنس پالینا) ته په غصه شو ځکه چه دې د تومسکی سره مینه نه کوله. د دی لپاره چه د خپل قهر او غصې نښې هغې ته وښیی د هغه په ځای یی لیزا را و غوښته او تر ډیره وخته یې د ماز یکه (یو ډول نڅاده) ډانس ورسره وکړ - تومسکی به هر وخت عسکری انجنیرانو کښې په لیزا باندې ټوکې کولې. تومسکی وویل چه زه لیزا دومره ښه پیژنم چه حتی دا هم په هغه اندازه ځان نه پیژنی. د تومسکی ځینی ټوکې دومره اغیز ناکې وې چه دا به یې مشوشه کړه او په دې فکر به شوه چه ګوندی زما پټ رمز ورته څرګند شوی دی.

لیزا په خندا پوښتنه وکړه: له چا نه موڅه اوریدلی دی؟

تومسکی ځواب ورکړ: دیوه سړی له دوست څخه هغه ډیر مشهور سړی دی.

-- دا مشهور سړی څوک دی؟

-- د هغه نوم ګیرمن دی.

لیزا نور هیڅ ونه ویل مګر لاسونه او پښې یی بی حسه شول.

تومسکی خپلو خبرو ته ادامه ورکړه. دا ګیرمن په رښتیا سره رومانتیک شخصیت لری د ده نیم رویه عکس فقط ناپلیون ته ورته دی، روح یی د (دمپیستفیل) سره شباهت لری. زه فکر کوم چه د ده پر غاړه لږ تر لږه د ری لوی ګناهونه پراته دی.

ولی دې رنګ داسی تک سپین وتښتیده؟

-- زما سر خوږیږی... ګیرمن؟ یه نه پوهیږم چه د ده نوم څه شی دی تا ته یی څه وویل.

-- ګیرمن د خپل دوست نه ډیر خپه دی. دی وایی چه ما باید د هغه دوست په مقابل کښې بل ډول رویه کړی وای ځکه چه د هغه رویه ښه نه وه...

حتی زه فکر کوم چه ګیرمن پخپله ستاسې په حقله هم څه فکرونه لری لږ تر لږه دی دا قدرت نه لری چه په آرامی سره د خپل دوست د مینې اظهارات وا وری.

ـــ مګرزه یې کله ولیدلم.

ـــ ممکن په کلیسا کښې ـ ممکن په هوا خوری کښې خدای خبر دی چیرې ؟ ممکن سناسې په کوټه کښې یې دخوب په وخت کښې لیدلی وې. دی هر څه کو لای شی. په دې منځ کښې درې ښځې راغلې او پو ښتنه یې و کړه: «مونږ وبخښی ء...» دده خبرې چه دلیزا په زړه ډیرې خوږې لګیدې پرې شوې وروسته تومسکی دډانس دپاره پخپله پرینسیس انتخاب کړه دتومسکی سره یې خبرې و کړې ډیره نڅایې ورسره و کړه په خپل ځای کښې دتومسکی سره ولاړه وه. کله چه تومسکی خپل ځای ته روان شو دګیرمن اولیزا خبرې یې له یاده وتلی وې لیزا په دې ارزووه چه هغه نیمګړی خبرې بیا تعقیب کړی. مګر ډانس خلاص شو. لږ وخت وروسته زړه (کونتس) خپل کورته ولاړه اوس نو تومسکی یوازې دډانس ټوکې واخستې ولې دتومسکی وړاندینی خبرې چه دګیرمن څیره یې څوګړی دمخه ترسیم کړې وه دلیزا دعقیدی سره ډیره سمه وه له دې امله چه دګیرمن څیره دعصری نا ولونو دقهرمانانو سره شباهت درلود کله به یې و ویروله او په عین زمان کښې یې زیاته خوشحاله کړه لیزا لوڅې څنګلې په ټټرایښی وې ناسته وه په سر کښې یې ګلان ټومبلی وو او سر یې کښته ځوړندو. ناڅاپه دروازه خلاصه شوه ګیرمن راتنووت. لیزا ورپیده.

په ویره سره یې غلی وویل: تاسې تر اوسه چیری واست؟

ګیرمن ځواب ور کړ: دزړې (کونتس) دخوب په کوټه کښې. دادی اوس ددی کوټې څخه راووتم (کونتس) مړه شوه

ـ او خدایه! تاسې څه زایی ء؟

ـ ګیرمن دخپلې خبرې لمن ونیوه داسې ښکاری چه زه ددې دمرګ سبب یم. لیزا ګیرمن

نه وکتل او دتو مسکی خبرې یې زړه ته راغلې دد ې سړی په غاړه درې لوی ګناهو نه پراته دی».

ګیرمن لیزا ته نژدې په کړکی کښې ناست واو ټوله قصه یې ورته وکړه.

لیزا په ډیر ترس سره دده خبرې اوریدلې اودځان سره بې داسو چ وواهه اوو یې ویل دا ټول داحساسا تو څخه ډک لیکونه، دګیرمن پرله پسې غوښتنې، زړه ور فعالیتونه، دادمینې اساس نه و. بلکه دده زړه پښې غوښتې.

دلیزا دلاسه دانه وه پوره چه دګیرمن دپیسو غوښتنه ترسره کړی اودی خوشبخته شی. غریبه لیزا دخپلی زړې نیکو کارې دایی دقاتل اوداړه مار کومکی شوه مګر په داسې حال کښې چه ددې پیښې پیش بینې یې نه شوای کولای دزړه له جوشه اوبی وخته پښیمانی نه یې وژړل. ګیرمن لیزا ته کتل اوغلی ناست ودګیرمن زړه دد رد څخه ډک ؤ مګر داد رد دد ې لپاره نه وچه دغریبې پیغلې په او ښکو یې زړه ته پښیمانی ور غله یوا زې یوه شی و یرا وه هغه دا چه د شتمنی سر د تل لپاره ور ک شو. په اخر کښې لیزا وویل: تاسې ځنادر یاست.

ګیرمن ځواب ور کړ: ماددې مرګ نه غوښت زما په تفنګچه کښې هیڅ کارتوس نه و. لیزا اوګیرمن دواړه چوپ شول.

سپاورا نژدې شو. لیزا د سوزیدلی شمعې پاتې برخه مړه کړه د سپید و تنې رپاددې کوټه لږه رڼا کړې ده. داوښکو ډک سترګې یې وچې کړې او بیا یې ګیرمن ته واړولې ګیرمن په کړکی کښې ناست و دواړه لاسونه یې بوبه بل تا وکړی په تنګر ایښی وو تروشه تنده یې نیولی وه په دې حال کښې یې دنا پلیون د عکس سره پوره شباهت درلود. دې شباهت په لیزا باندې هم پوره اغیزه وکړه په اخر کښې لیزا وویل:

ـ څنګه به دکور څخه ووځې ماخودافکر کاوه چه له پټې زینې څخه به موو باسم.

مګر موږ باید دخوب کوټې څخه تیرشو اوزه هلته ویر یزم (نوو بیا)

محمد عثمان نژند

ژړرنګ

طلایی باغ نقره فامه ابشارونه — جوړ وی د زندګی سوز اوسازونه
د بهار قدر پیدا دی له خزانه — بی خزانه د بهار کتنه ګرانه
دبهار اخرنی معراج خزان وی — دې موسم کښې هر یو بوټی زرنشان وی
که بهار سره قدرت دیارانې شته — د خزان سره پیمان د پیمانی شته
په بهار کښې که خوشبویه شګوفې دی — دخزان سره خوږې خوږې میوی دی
غرض دا چه خزان ځانته یو بهار دی — باغ او بڼ کښې عجیبه شانته روزګار دی
له هر شی څخه میوه مطلوب کل ده — نه ستاینه د نرګس نه د بلبل ده
دفصلونو هر یو فصل یو کتاب دی — دناپوهو ژوند وژو اك لکه حباب دی
هنرورو ته خزان هم خزانه ده — بی هنر و ته حیات یوه افسانه ده
دهر بوټی هر پاڼه کښې هنر دی — په هر ښاخ کښې د پوهنې لوی دفتر دی
دخزان خوږ و میوو نه برخوردار شه — فیض رسانه په زړه ډك لکه انار شه
فلسفه دزندګی ګل او مل نه ده — دا هدف دځینو خلکو د کل نه ده
تحول چه نه وی کیف دژوندون نشته — چه دنن کیفیت یې نه وی پرون نشته
په هر شی کښې رنګارنګ حالت لیده شی — بد بختی ده که یو قوم پاتې ویده شی
اختلاف نه دفصلونو جوړ جهان دی — که پسرلی یادو بی ژمی که خزان دی
که همیش شینکی باغونه او پسرلی وای — ګل به کله په نظر کښې ګلالی وای

دنژند هدف بدلون دی نه خزان
اساسی مطب نه ثوردی نه میزان

پته

غازی وات، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتلیفون لمبر (۲۱۲۹۱

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه